# د قاضيانو کِتاب

## پيژندګلو

د قاضيانو په کِتاب کښې د بنى اِسرائيلو د ګناه او د هغې د يرووِنکو نتيجو په حقله ذکر شوے دے. د حضرت يشوَع نه پس، ډېرو مشرانو کوشش وکړو چې د بنى اِسرائيلو رهنمائى وکړى، خو خلق د مالِک خُدائ نه واوړېدل او د نورو معبودانو عبادت يې شروع کړو. په هغه زمانه کښې هر چا به د خپلې خوښې کارونه کول او د خُدائ پاک مرضى به يې نۀ کول. په دې کِتاب کښې مونږ ګورو چې خلق بار بار ګناه کوى او خُدائ پاک د هغوئ خلاف قومونه راوچتوى او سزا ورکوى او بيا د هغوئ د دُعاګانو په جواب کښې خُدائ پاک يو قاضى راوچت کړى چې هغوئ آزاد کړى. د قاضيانو دا کِتاب يوه ښۀ يادګيرنه ده چې خُدائ پاک ګناه له سزا ورکوى خو تل هغوئ معاف کوى څوک چې توبه کوى. د حفظ کولو دپاره ۶:۱۰ آيت "ما تاسو ته وفرمائيل چې زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم او تاسو به د اموريانو معبودانو عبادت نۀ کوئ..."

## د يهوداه او شمعون قبيلو ادونىبزق بادشاه نيول

١ (١) د يشوَع د مرګ نه پس بنى اِسرائيلو د مالِک خُدائ
نه تپوس وکړو، "زمونږ کومې قبيلې وړومبے لاړې شى چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په کنعانیانو حمله وکړی؟“ ۲ مالِک خُدائ ورته وفرمائیل،
”د یهوداه قبیله دې وړومبے لاړه شی. زهٔ هغه مُلک د هغوئ
په حواله کوم.“ ۳ د یهوداه خلقو د شمعون قبیلې یعنې
خپلو رشته‌دارو ته ووئیل، ”مونږ سره هغه علاقې ته لاړ شئ
چې مونږ له راکړے شوې ده او مونږ به په شریکه د
کنعانیانو سره جنګ وکړُو. بیا به مونږ ستاسو سره هغه
علاقې ته لاړ شو کومه چې تاسو له درکړے شوې ده.“ نو د
شمعون قبیله ۴ او د یهوداه قبیله په شریکه جنګ له لاړل.
مالِک خُدائ هغوئ له په کنعانیانو او فرزیانو فتح ورکړه او
هغوئ د بزق په ښار کښې لسو زرو سړو له شکست ورکړو.
۵ هغوئ ادونی‌بزق هلته وموندلو او د هغهٔ سره یې جنګ
وکړو. ۶ ادونی‌بزق وتښتېدو، خو هغوئ ورپسې وُو او وې
نیولو او د لاسونو او پښو متې ګوتې یې ترې نه پرې کړې.
۷ ادونی‌بزق ووئیل، ”اویا داسې بادشاهانو زما د
دسترخوان نه پاتې شوې ټُکړې راټولې کړې دی چې د هغوئ
د لاسونو او د پښو غټې ګوتې پرې کړے شوې وې. اوس
خُدائ پاک ما سره هم هغه شان وکړل لکه څنګه چې ما د
هغوئ سره کړی وُو.“ هغه یروشلم ته بوتلے شو، چرته چې
هغه مړ شو.

## د یهوداه قبیلې یروشلم او حبرون فتح کول

۸ د یهوداه سړو په یروشلم حمله وکړه او قبضه یې کړه.
هغوئ د دې خلق ووژل او په ښار یې اور ولګولو. ۹ د دې
نه پس هغوئ روان وُو چې کنعانیانو سره جنګ وکړی چې
هغوئ د غرونو په مُلک، جنوبی اوچه برخه او لاندې علاقو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې اوسېدل. ۱۰ هغوئ د کنعانيانو خِلاف روان شول.
کنعانيان د حبرون په ښار کښې اوسېدل، چې مخکښې دا د
قِريَت‌اربع په نوم يادېدو او هلته هغوئ د سيسی، اخيمان او
تلمی ډلو له شکست ورکړو.

## د عتنی‌اېل د دبير ښار فتح کول

۱۱ د يهوداه سړی د هغه ځائ نه د دبير ښار طرف ته روان
شول، چې په هغه وخت کښې د قِريَت‌سِفر په نوم يادېدو. ۱۲
په هغوئ کښې د يو نوم کالب وو، کالب وفرمائيل، "زۀ به
خپله لور عکسه هغه سړی له ورکړم چې وادۀ يې کړی چې
څوک قِريَت‌سِفر قبضه کړی." ۱۳ هغه ښار عتنی‌اېل قبضه
کړو، چې د کالب د کشر ورور قنز زوئ وو، نو کالب خپله
لور عکسه هغۀ ته وادۀ کړه. ۱۴ د وادۀ په ورځ عکسې
عتنی‌اېل ته منت وکړو چې د هغې د پلار نه يو پټے وغواړی.
هغه د خپل خر نه کوزه شوه او کالب ترې نه تپوس وکړو،
"تۀ څۀ غواړې؟" ۱۵ هغې ورته ووئيل، "زما سره يوه ښېګړه
وکړه ځکه چې تا ما له په جنوبی برخه کښې زمکه راکړې ده،
نو ما له د اوبو څۀ چينې هم راکړه." نو کالب هغې له بره او
ښکته چينې ورکړې.

## د يهوداه او بنيامين قبيلو فتح

۱۶ د موسیٰ د سخر اولاد قينيان د کجورو د ونو ښار يريحو
نه د يهوداه خلقو سره روان وُو، د يهوداه صحرا ته داخل
شول. هغوئ په جنوب کښې د عراد د ښار سره نزدې، خلقو
سره اوسېدل. ۱۷ د يهوداه خلق د شمعون خلقو سره لاړل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغوئ په شريکه کنعانيانو له شکست ورکړو، کنعانيان د
صِفت په ښار کښې اوسيدل. هغوئ په پوره توګه ښار تباه
کړو او حُرمه نوم يې پرې کېښودو. ۱۸ د يهوداه سړو غزه،
اسقلون او عقرون، دا ټول ښارونه او د دې علاقې هم قبضه
کړې. ۱۹ مالِک خُدائ د يهوداه د خلقو مل وو. هغوئ د
غرونو مُلک قبضه کړو، خو هغوئ د دې جوګه نۀ وُو چې د
ميدانونو نه خلق وشړی، ځکه چې د هغوئ سره د اوسپنې
ګاډئ وې. ۲۰ لکه څنګه چې موسیٰ حُکم کړے وو، حبرون
کالب ته ورکړے شو، کالب د عناق د اولاد درې قبيلې د هغه
ښار نه شړلې وې. ۲۱ خو د بنيامين د قبيلې خلقو هغه
يبوسيان ونۀ شړلے شول چې په يروشلم کښې اوسېدل او هم
د هغه وخت نه يبوسيان هلته د بنيامين د خلقو سره اوسيږی.

## د اِفرائيم او منسی قبيلو بيت‌ايل قبضه کول

۲۲-۲۳ د اِفرائيم او منسی قبيلې لاړې چې په بيت‌ايل ښار
باندې حمله وکړی په هغه وخت کښې د دې لوز نوم وو.
مالِک خُدائ د هغوئ مدد وکړو. هغوئ هغه ښار ته
جاسوسان ولېږل، ۲۴ هغوئ يو سړے وليدو چې د ښار نه
راووتلو نو هغۀ ته يې ووئيل، ”ښار ته د ننوتلو لار مونږ ته
وښايه او مونږ به تا سره ښۀ سلوک وکړُو.“ ۲۵ نو هغۀ ورته
لار وښودله او د اِفرائيم او منسی خلقو په ښار کښې هر يو
کس ووژلو او صرِف دا سړے او د هغۀ کورنۍ يې پرېښوده.
۲۶ وروستو دا سړے د حِتيانو مُلک ته لاړو، هلته يې يو
ښار جوړ کړو او په دې باندې يې لوز نوم کېښودو، تر اوسه
پورې يې هم دغه نوم دے.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## هغه خلق کوم چې بنی اِسرائيلو ونۀ شړل

۲۷ د منسی قبيلې هغه خلق ونۀ شړل چې کوم د بيت‌شان،
تعنک، دور، ابليعام، مِجدو او په ګېرچاپېره کلو کښې
اوسېدل، او کنعانيان هم هلته دېره وُو. ۲۸ کله چې بنی
اِسرائيليان طاقتور شول، نو هغوئ کنعانيان دې ته مجبور
کړل چې د هغوئ دپاره کار کوی، خو بيا يې هم هغوئ ټول
ونۀ شړل. ۲۹ د اِفرائيم قبيلې هغه کنعانيان ونۀ شړل چې د
جزر په ښار کښې اوسېدل، نو کنعانيان هم هلته د هغوئ سره
اوسېدل. ۳۰ د زبولون قبيلې هغه خلق ونۀ شړل کوم چې د
قِطرون او نهلال په ښارونو کښې اوسېدل، نو کنعانيان هم
هلته د هغوئ سره اوسېدل او دې ته مجبور وُو چې د هغوئ
دپاره کار کوی. ۳۱ د آشر قبيلې هغه خلق ونۀ شړل کوم
چې د عکو، صيدا، احلاب، اکزيب، حلبه، افيق، رِحوب په
ښارونو کښې اوسېدل. ۳۲ د آشر قبيلې خلق د هغه ځائ د
کنعانيانو سره اوسېدل، ځکه چې هغوئ کنعانيان ونۀ شړل.
۳۳ د نفتالی قبيلې هغه خلق ونۀ شړل کوم چې د بيت‌شمس
او بيت‌عنات په ښارونو کښې اوسېدل. د نفتالی خلق د هغه
ځائ د کنعانيانو سره اوسېدل، خو هغوئ يې دې ته مجبور
کړل چې د هغوئ دپاره کار کوی. ۳۴ اموريانو د دان قبيلې
خلق مجبور کړل چې د غرونو مُلک ته لاړ شی او هغوئ يې
دې ته نۀ پرېښودل چې لاندې مېدان ته لاړ شی. ۳۵ اموريان
په ايالون، سعلبيم، او د حِرس په غرۀ کښې دېره وُو، خو د
اِفرائيم او منسی قبيلې طاقتورې شوې او د هغوئ نه يې په
زور کار اخستو. ۳۶ د اموريانو د حد پوله د لړم درې نه
واخله تر سلع پورې او د دې نه اخوا هم وه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په بوکيم کښې د مالِک خُدائ فرښته

۲ ۱ د مالِک خُدائ فرښته د جِلجال نه بوکيم ته لاړه او
بنی اِسرائيلو ته يې وفرمائيل، ”ما تاسو د مِصر نه راوويستلئ
او هغه مُلک ته مې راوستلئ چې ستاسو د پلار نيکۀ سره ما
د هغې وعده کړې ده. ما وفرمائيل زۀ به هيڅکله ستاسو سره
خپل لوظ مات نۀ کړم. ۲ تاسو چې د هغه خلقو سره هيڅ
لوظ ونۀ کړئ کوم چې په دې مُلک کښې اوسيږی بلکې د
هغوئ د قربانۍ ځايونه راوغورزوئ. خو تاسو زما د حُکم
نافرمانی کړې ده. تاسو داسې ولې کړی دی؟ ۳ اوس زۀ
تاسو ته وايم چې تاسو مخ په وړاندې ځئ نو زۀ به دا خلق نۀ
شړم. هغوئ به ستاسو دشمنان شی او د هغوئ معبودان به
ستاسو دپاره يو دام جوړ شی.“ ۴ کله چې د مالِک خُدائ
فرښتې دا خبرې بنی اِسرائيلو ته وکړې نو ټول قوم په چغو
چغو وژړل، ۵ نو ځکه په هغه ځائ يې بوکيم نوم کېښودو
چې مطلب يې ژړا دے او هلته هغوئ مالِک خُدائ ته قربانۍ
پېش کړې.

## د يشوَع مرګ

۶ يشوَع چې کله بنی اِسرائيل رُخصت کړل، نو هره يوه
قبيله لاړله چې د هغه مُلک خپله خپله برخه ونيسی. ۷ تر
کومې پورې چې يشوَع ژوندے وو، نو بنی اِسرائيلو د مالِک
خُدائ خِدمت کولو او د هغۀ د مرګ نه پس چې تر کومې
پورې هغه مشران ژوندی وُو چې هغوئ په خپله هغه ټول لوئ
کارونه ليدلی وُو چې مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو دپاره کړی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وُو، نو هغوئ هم هغه شان کول. ٨ د مالِک خُدائ خِدمت
کوونکے د نون زوئ يشوَع د يو سل او لسو کالو په عُمر
کښې مړ شو. ٩ هغه په خپله زمکه کښې ښخ کړے شو،
هغه ځائ د جعس په شمالی طرف د اِفرائيم غرونو په مُلک
تمنت‌حِرس کښې وو. ١٠ هغه ټول نسل هم مړ شو او
وريسې نسل مالِک خُدائ او هغه څۀ هېر کړل چې مالِک
خُدائ د بنی اِسرائيلو دپاره کړی وُو.

## د بنی اِسرائيلو د مالِک خُدائ عبادت بس کول

١١ نو بنی اِسرائيلو د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه او د
بعل د بُتانو عبادت يې شروع کړو. ١٢ هغوئ د مالِک خُدائ
عبادت پرېښودو، کوم چې د هغوئ د پلار نيکۀ خُدائ پاک
وو، هغه خُدائ پاک چې هغوئ يې د مِصر د مُلک نه
راويستلی وُو او هغوئ د نورو معبودانو عبادت شروع کړو، د
هغه خلقو د معبودانو چې د هغوئ په خواوشا کښې اوسېدل،
هغوئ ورته سجدې وکړې او مالِک خُدائ يې په غصه کړو.
١٣ هغوئ د مالِک خُدائ عبادت پرېښودو او د بعل او
عستارات خِدمت يې شروع کړو. ١٤ نو مالِک خُدائ بنی
اِسرائيلو ته سخت غصه شو او هغوئ يې ډاکوانو ته حواله
کړل او ډاکوانو هغوئ لوټ کړل. هغۀ په هغوئ باندې ټول د
خوا او شا دشمنان غالِب کړل، نو هغوئ نور د دې جوګه نۀ
وُو چې خپلو دشمنانو ته ټينګ شی. ١٥ هر ځل چې هغوئ
جنګ له تلل، نو مالِک خُدائ به د هغوئ خِلاف وو او هغوئ
به يې د شکست سره مخ کول، لکه څنګه چې هغۀ فرمائيلی
وُو چې هغه به هم داسې وی. هغوئ په سخت کړاؤ کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راګېر وُو. ١٦ بيا مالِک خُدائ په بنى اِسرائيلو باندې
قاضيان مقرر کړل او دې قاضيانو د ډاکوانو نه خلاص
کړل. ١٧ خو بنى اِسرائيلو خپلو قاضيانو ته غوږ ونۀ نيولو.
بنى اِسرائيلو د مالِک خُدائ سره بې‌غېرتى وکړه او د نورو
معبودانو عبادت يې وکړو. هغوئ زر د هغې لارې نه واوړېدل
چې په کومه د هغوئ پلار نيکۀ روان وُو، چې هغوئ په
فرمانبردارئ سره د مالِک خُدائ د حُکم په مطابق روان وُو.
١٨ کله هم چې مالِک خُدائ بنى اِسرائيلو له يو قاضى
ورکړو، نو مالِک خُدائ به د هغه قاضى مل وو او خلق به يې
د خپلو دشمنانو نه بچ کول چې تر کومې به هغه قاضى
ژوندے وو. نو مالِک خُدائ به په هغوئ رحم کولو ځکه
هغوئ د خپلو تکليفونو او مصيبتونو لاندې فرياد کولو. ١٩
خو چې کله به قاضى مړ شو، نو خلق به هم هغه ناولو
کارونو ته وروګرځېدل او د مخکښېنى نسل نه به يې بدتر عمل
کولو. هغوئ به د نورو معبودانو خِدمت او عبادت کولو او د
خپلو بدو عملونو او خپلو ضدى طريقو پرېښودو نه به يې
اِنکار کولو. ٢٠ نو مالِک خُدائ به بنى اِسرائيلو ته سخت په
قهر شو او ويه يې فرمائيل، ”دې نسل هغه لوظ مات کړے
دے چې ما يې د دوئ پلار نيکۀ له د پوره کولو حُکم ورکړے
وو. ځکه چې دوئ زما نافرمانى کړې ده، ٢١ د يشوَع د
مرګ په وخت چې په هغه مُلک کښې کوم قومونه پاتې وُو نو
زۀ به هغوئ نور نۀ شړم. ٢٢ زۀ به هغوئ د دې دپاره
استعمال کړم چې دا معلومه کړم چې دا بنى اِسرائيليان د
خپل پلار نيکۀ په شان زما په لاره روان دى او کۀ نه.“ ٢٣
نو مالِک خُدائ هغه قومونه پرېښودل چې په هغه مُلک کښې
پاتې شى، هغۀ نۀ يشوَع له په هغوئ باندې فتح ورکړه او نۀ يې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د یشوَع د مرګ نه پس زر هغوئ وشړل.

## په هغه مُلک کښې پاتې شوی قومونه

٣ ١ بیا مالِک خُدائ څۀ قومونه په هغه مُلک کښې د دې
دپاره پرېښودل چې هغه بنی اِسرائیلیان وآزمائی چې کوم د
کنعان په جنګونو کښې شامل نۀ وُو. ٢ هغۀ داسې د دې
دپاره وکړل چې د بنی اِسرائیلو هر یو نسل ته د جنګ چل
وښائی، خصوصاً هغوئ ته چې کومو مخکښې هیڅکله هم
جنګ نۀ دے کړے. ٣ په هغه مُلک کښې پینځۀ فلستی
ښارونه پاتې شول، ټول کنعانیان، صیدانیان او حِویان چې د
بعل حرمون غر نه واخله د حمات درې پورې د لبنان په
غرونو کښې اوسېدل. ٤ هغوئ د بنی اِسرائیلو دپاره یو
آزمېښت وو، چې دا معلومه شی چې مالِک خُدائ د موسیٰ
په ذریعه بنی اِسرائیلو له کوم حُکمونه ورکړی وُو چې په هغې
باندې عمل کوی او کۀ نه. ٥ نو داسې بنی اِسرائیل د
کنعانیانو، حِتیانو، اموریانو، فرزیانو، حِویانو او یبوسیانو
سره اوسېدل. ٦ هغوئ د دوئ لوڼه وادۀ کړې او خپلې
لوڼه یې د هغوئ زامنو له ورکړې او د هغوئ د معبودانو
عبادت یې وکړو.

## عتنیایل

٧ بنی اِسرائیلو د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه، خپل
خُدائ پاک یې هېر کړو او د بعل او اشیرې د بُتانو عبادت یې
وکړو. ٨ نو مالِک خُدائ بنی اِسرائیلو ته په قهر شو او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مسوپتامیه بادشاه کوشن رِسعتیم ته یې حواله کړل او اتهٔ
کاله یې په هغوئ حکومت وکړو. ۹ بیا بنی اِسرائیلو مالِک
خُدائ ته فریاد وکړو او مالِک خُدائ د هغوئ د بچ کولو
دپاره یو خلاصونکے ورولېږلو. دا عتنیاېل وو چې د کالب د
کشر ورور قنز زوئ وو. ۱۰ د مالِک خُدائ روح په هغهٔ
نازل شو او هغه د بنی اِسرائیلو قاضی شو. عتنیاېل جنګ له
لاړو او مالِک خُدائ هغهٔ له د مسوپتامیه په بادشاه باندې فتح
ورکړه. ۱۱ څلوېښت کاله په هغه مُلک کښې امن وو او بیا
د قنز زوئ عتنیاېل مړ شو.

## اهُود

۱۲ بنی اِسرائیلو د مالِک خُدائ خِلاف بیا ګناه وکړه، نو د
دې په وجه مالِک خُدائ د موآب بادشاه عجلون د بنی
اِسرائیلو نه طاقتور کړو. ۱۳ عجلون عمونیان او عمالیقیان
د ځان سره ملګری کړل، هغوئ بنی اِسرائیلو له شکست
ورکړو او د کجورو ښار یریحو یې قبضه کړو. ۱۴ بنی
اِسرائیلیان اتلس کاله د عجلون بادشاه د اختیار د لاندې ؤُو.
۱۵ بیا بنی اِسرائیلو مالِک خُدائ ته فریاد وکړو او مالِک
خُدائ د هغوئ د بچ کولو دپاره یو خلاصونکے ورولېږلو. د
هغهٔ نوم اهُود وو، هغه د بنیامین د قبیلې د جیرا زوئ وو او
هغه ګس متے وو. بنی اِسرائیلو اهُود د موآب بادشاه عجلون
ته د محصُول سره ورولېږلو. ۱۶ اهُود یوه دوه مخیزه تُوره
جوړه کړې وه چې تقریباً اتلس اِنچې اوږده وه. هغهٔ دا د
خپلو جامو لاندې د ښۍ پښې سپینې پورې تړلې وه. ۱۷ بیا
هغهٔ محصُول عجلون له یوړو، څوک چې ډېر څورب سړے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو. ۱۸ کله چې اهُود هغهٔ له محصُول ورکړو، چې کومو
سړو دا راوړے وو نو هغوئ يې رُخصت کړل. ۱۹ خو چې
کله اهُود د کاڼو بُتانو ته ورسېدو چې جِلجال ته نزدې وو، نو
عجلون ته راواپس شو او ورته يې ووئيل، ”بادشاه سلامت،
زما سره ستا دپاره يو د راز خبره ده.“ نو بادشاه ورته ووئيل،
”اوس خبره مهٔ کوه.“ او د هغهٔ ټول نوکران د هغهٔ د حضور
نه لاړل. ۲۰ بيا چې کله بادشاه په چت باندې په خپله يخه
کوټه کښې ناست وو، اهُود هغهٔ له ورَغلو او ورته يې ووئيل،
”زما سره ستا دپاره د خُدائ پاک نه يو پيغام دے.“ نو
بادشاه د تخت نه پاڅېدو. ۲۱ اهُود د خپل ګس لاس سره د
ښى طرف نه تُوره راوويسته او د بادشاه په خېټه کښې يې ننه
ويستله. ۲۲ تُوره دومره ډُوبه لاړه چې د دې لاسکے په
وازګه باندې پټ شو. اهُود تُوره د بادشاه د خېټې نه راونهٔ
ويستله او د بادشاه کولمو نه ګند راووتلو. ۲۳ بيا اهُود
برنډې ته ووتلو، هغهٔ پسې يې دروازې بندې کړې او تالې يې
ولګولې، ۲۴ او ترې نه لاړو. نوکران راغلل او وې ليدل چې
دروازې تاله وې، هغوئ صِرف دا خيال کولو چې بادشاه
دننه دے او متيازې کوى. ۲۵ هغوئ تر څهٔ وخته پورې
انتظار وکړو، خو چې هغهٔ بيا هم دروازه کولاو نهٔ کړه، نو
هغوئ چابى واخستله او دا يې کولاو کړه. او د هغوئ نبک
دننه په فرش باندې مړ پروت وو. ۲۶ په کوم وخت چې
هغوئ اِنتظار کولو نو اهُود وتښتېدو، هغه د کاڼو بُتانو نه تېر
شو او سعيرت ته وتښتېدو. ۲۷ کله چې هغه د غرونو مُلک
اِفرائيم ته ورسېدو، نو هغهٔ بيګل وغږولو چې بنى اِسرائيليان د
جنګ دپاره راغونډ کړى، بيا يې هغوئ د غر نه لاندې بوتلل.
۲۸ هغهٔ ورته ووئيل، ”په ما پسې راځئ. مالِک خُدائ تاسو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له په خپلو دشمنانو يعنې موآبيانو باندې فتح درکړې ده.“ نو
هغوئ په اهُود پسې لاندې لاړل او هغه ځائ يې قبضه کړو
چې په کوم ځائ کښې به موآبيان د اُردن سيند نه پورې وتل،
هغوئ هيچا له هم د پورې وتلو اجازت ورنۀ کړو. ٢٩ هغوئ
په هغه ورځ باندې تقريباً لس زره ښۀ، تکړه موآبيان فوجيان
ووژل، يو هم ونۀ تښتيدلو. ٣٠ په هغه ورځ بنى اِسرائيلو
موآبيانو له شکست ورکړو او اتيا کاله په هغه مُلک کښې امن
وو.

## شمجر

٣١ وريسې مشر د عنات زوئ شمجر وو. هغۀ شپږ سوه
فلستيان په تېرۀ لښته باندې ووژل او بنى اِسرائيليان يې هم بچ
کړل.

## دبوره او برق

۴ ١ د اهُود د مرګ نه پس، بنى اِسرائيلو بيا د مالِک
خُدائ خِلاف ګناه وکړه. ٢ نو مالِک خُدائ هغوئ يو
کنعانى بادشاه يابين ته حواله کړل، چا چې د حصور په ښار
کښې بادشاهى کوله. د هغۀ د لښکر مشر سِسيرا وو، کوم
چې په حروست هګوئيم کښې اوسيدو. ٣ د يابين نهۀ سوه
د اوسپنې ګاډۍ وې او هغۀ د ظلم زياتى سره شل کاله په بنى
اِسرائيلو حکومت وکړو. بيا بنى اِسرائيلو د مدد دپاره مالِک
خُدائ ته فرياد وکړو. ۴ نو د لفيدوت ښځه، دبوره يوه
پېغمبره وه او په هغه وخت کښې هغې د يو قاضى په توګه د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بنی اِسرائیلو خِدمت کولو. ۵ هغه به د اِفرائیم غرونو په
مُلک کښې د راما او بیت‌ایل په مینځ کښې د کجورې یوې
خاص ونې لاندې کښېناسته او بنی اِسرائیل به هلته د فېصلو
کولو دپاره ورتلل. ۶ یوه ورځ هغې په نفتالی کښې د قادِس
ښار د ابی‌نوعم زوئ برق راوغوښتلو او ورته یې وفرمائیل،
”مالِک خُدائ، د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک تا له دا حُکم
درکړے دے چې د نفتالی او زبولون قبیلو نه لس زره سړی
روان کړه او د تبور غر ته یې بوځه. ۷ زۀ به د یابین د
لښکر مشر سِسیرا وغولوم چې د قیسون سیند سره ستا
خِلاف جنګ وکړی. د هغۀ سره به خپلې ګاډۍ او فوجیان
وی، خو زۀ به تا له په هغۀ باندې فتح درکړم.“ ۸ برق
جواب ورکړو، ”کۀ تۀ ما سره ځې نو زۀ به لاړ شم، خو کۀ تۀ
راسره نۀ ځې، نو بیا زۀ هم نۀ ځم.“ ۹ هغې جواب ورکړو،
”ټیک ده، زۀ به تا سره لاړه شم، خو په دې منصوبه کښې به
تا ته عزت نۀ ملاویږی، ځکه چې مالِک خُدائ به سِسیرا یوې
ښځې ته حواله کړی.“ نو دبوره د برق سره قادِس ته روانه
شوه. ۱۰ برق د زبولون او نفتالی قبیلې قادِس ته
راوغوښتلې او لس زره سړی په هغۀ پسې روان وُو. دبوره د
هغۀ سره لاړه. ۱۱ په دې دوران کښې قینی حِبر په ضعننیم
کښې د څېړۍ ونې سره نزدې د قادِس سره خپله خیمه
لګولې وه. هغه د نورو قینیانو نه لرې تلے وو، چې هغوئ د
موسیٰ د اوخې حوباب اولاد وو. ۱۲ کله چې سِسیرا خبر
شو چې برق د تبور غرونو ته ختلے دے، ۱۳ نو هغۀ خپلې
نهۀ سوه د اوسپنې ګاډۍ او ټول سړی راوغوښتل او هغوئ
یې د حروست هګوئیم نه د قیسون سیند ته ولېږل. ۱۴
دبورې برق ته ووئیل، ”لاړ شه. مالِک خُدائ به ستا لاربښودنه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوی، نن هغهٔ تا له په سِسیرا باندې فتح درکړې ده.“ نو برق د
خپلو لسو زرو سړو سره د تبور غر نه راکوز شو. ۱۵ کله
چې برق او د هغهٔ لښکر حمله وکړه، نو مالِک خُدائ سِسیرا
د خپلو ټولو جنګی ګاډو او سړو سره په وارخطایئ آخته
کړل. سِسیرا د خپلې ګاډئ نه راټوپ کړل او پېدل وتښتېدو.
۱۶ برق تر حروست هګوئیم پورې په ګاډو او لښکر پسې وو
او د سِسیرا ټول لښکر ووژلے شو. یو سړے هم پاتې نۀ شو.
۱۷ سِسیرا د قینی حِبر ښځې یاعیل خېمې ته وتښتېدو، ځکه
چې د حصور بادشاه یابین د حِبر د خاندان سره د امن تړون
وو. ۱۸ یاعیل د سِسیرا سره مِلاوېدو دپاره راووتله او ورته
یې ووئیل، ”صاحِبه، دننه راشه، زما خېمې ته دننه راشه. مۀ
یرېږه.“ نو هغه دننه راغلو او هغه یې په بستره کښې پټ کړو.
۱۹ هغهٔ هغې ته ووئیل، ”زهٔ تږے یم، ما له لږې اوبهٔ راکړه.“
نو هغې د پیو مشکیزه کولاو کړه، پئ یې په هغهٔ وڅښل او بیا
یې پټ کړو. ۲۰ بیا هغهٔ ورته ووئیل، ”د خېمې د دروازې په
خولهٔ کښې ودرېږه، چې څوک راځی او تپوس کوی چې دلته
څوک شته، نو ورته وایه چې نشته.“ ۲۱ سِسیرا ډېر ستړے
وو او په خوږ خوب اودهٔ شو. نو یاعیل څټک او د خېمې
موږے واخستلو، غلې شان هغهٔ له ورغله، هغې ورله موږے
د تندی نه پورې غاړه وویستلو او موږے په زمکه کښې هم
ښخ شو او هغه مړ شو. ۲۲ کله چې برق په سِسیرا پسې وو
نو یاعیل مِلاوېدو دپاره وروو‌تله او ورته یې ووئیل، ”دلته
راشه. زهٔ به تا ته هغه سړے وښایم چې تهٔ یې ګورې.“ نو هغه
د هغې سره دننه لاړو او سِسیرا هلته په زمکه مړ پروت وو
چې په تندی کښې یې د خېمې موږے ټک وهلے شوے وو.
۲۳ په هغه ورځ خُدائ پاک بنی اِسرائیلو له په کنعانی بادشاه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یابین باندې فتح ورکړه. ۲۴ بنی اِسرائیل په هغهٔ باندې دومره
زورَور شول چې تباه یې کړو.

## د دبوره او برق حمد

**۵** ۱ په هغه ورځ دبورې او د ابی‌نوعم زوئ برق دا حمد
ووئیلو، ۲ ”د مالِک خُدائ ثناء دې وی. مشرانو د بنی
اِسرائیلو لاربښودنه وکړه، او خلقو په خوشحالئ سره ځانونه
پېش کړل. ۳ واورئ اے بادشاهانو، حکومت کوونکو غوږ
ونیسئ. زهٔ به د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړم او ساز به
وغږوم هغه مالِک خُدائ ته چې د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک
دے. ۴ مالِکه خُدایه، کله چې تهٔ د سعیر د غرونو نه لاړې،
کله چې تهٔ د ادوم د علاقې نه راووتلې، زمکه ولړزېدله او د
آسمان نه باران ووریدلو. آو، اوبهٔ د وریځو نه راتوې شوې.
۵ د سینا مالِک خُدائ په وړاندې غرونه ولړزېدل، د مالِک
خُدائ په وړاندې چې د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک دے. ۶ د
عنات زوئ شمجر په وخت کښې، د یاعیل په وخت کښې،
قافلې په زمکه کښې نورې نهٔ تلې، او مسافر په تاو راتاو لارو
باندې تلل. ۷ د بنی اِسرائیلو کلی پرېښودلے شول، او دا
خالی پاتې شول تر دې پورې چې دبوره د بنی اِسرائیلو د مور
په شان راپېدا شوه. ۸ بیا په هغه مُلک کښې جنګ وو کله
چې بنی اِسرائیلو نوی معبودان خوښ کړل. د بنی اِسرائیلو په
څلوېښتو زرو سړو کښې، داسې څوک نهٔ وُو چې هغوئ ډال
یا نېزه وړے وې. ۹ زما زړهٔ د بنی اِسرائیلو د مشرانو سره
تړلے دے د هغه کسانو سره چې خپل ځانونه د جنګ دپاره
پېش کړل. د مالِک خُدائ ثناء صِفت دې وی. ۱۰ ووایئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو چې په سپينو خرونو باندې سورلی کوئ، او تاسو په
ښو قالينونو باندې کښېنئ، او تاسو په لاره باندې پېدل مزل
کوئ. ۱۱ د اوبو په ګودرو کښې د سندرغاړو آواز واورئ.
هغوئ د مالِک خُدائ فتحې بيانوی، چې د بنی اِسرائيلو فتحې
دی. بيا د مالِک خُدائ خلق د ښار د دروازو طرف ته روان
شول. ۱۲ پاڅه، پاڅه. دبورې، پاڅه او يوه سندره ووايه، د
ابی‌نوعم زويه برقه، پاڅه، خپل قېديان روان کړه. ۱۳ بيا
پاتې شوی مشران راکوز شول، د مالِک خُدائ خلق د
طاقتورو خِلاف راکوز شول. ۱۴ هغوئ د اِفرائيم نه مېدان ته
راغلل، د بنيامين په قبيله او د هغوئ په خلقو پسې. مشران د
مکير نه راکوز شول، او آفسران د زبولون نه. ۱۵ د يساکار
مشران د دبورې سره راغلل، يساکار او برق هم راغلل، او
هغوئ په مېدان کښې په هغۀ پسې روان ؤو. خو د روبين
قبيله شش او پنج کښې شوه، هغوئ دا فېصله ونۀ کړې شوه
چې راشی. ۱۶ هغوئ ولې د ګېډو سره وروستو پاتې شول؟
چې شپانو ته غوږ ونيسی چې رَمو ته آوازونه کوی؟ آو، د
روبين قبيله شش او پنج کښې شوه، هغوئ دا فېصله ونۀ
کړې شوه چې راشی. ۱۷ د جاد قبيله د اُردن نمرخاتۀ
طرف ته پاتې شوه، او د دان قبيله د سمندری جهازونو سره
ولې پاتې شوه؟ د آشر قبيله د سمندر په غاړه پاتې شوه،
هغوئ د سمندر په غاړه پاتې شول. ۱۸ خو د زبولون او
نفتالی خلقو خپل ژوند د جنګ مېدان په خطره کښې
واچولو. ۱۹ په تعنک کښې، د مِجدو نِهر سره، بادشاهان
راغلل او هغوئ جنګ وکړو، د کنعان بادشاهانو جنګ وکړو،
خو هغوئ سپين زر لوټ نۀ کړل. ۲۰ د آسمان نه ستورو
جګړه کوله، څنګه چې هغوئ په آسمان کښې حرکت کولو،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستورو د سِسیرا خِلاف جګړه وکړه. ۲۱ په قیسون کښې یو
سېلاب هغوئ یوړل د قیسون تېز دریاب هغوئ په مخه کړل.
زۀ به روان شم او د طاقت سره به روان یم. ۲۲ بیا آسونه په
منډه راغلل، او د خپلو پښو د سومونو نښې یې په زمکه باندې
جوړې کړې. ۲۳ د مالِک خُدائ فرښته فرمائی، "د میروز په
خلقو دې لعنت وی، په هغوئ دې سخت لعنت وی. ځکه چې
هغوئ د مالِک خُدائ په جنګ کښې د مدد دپاره رانۀ غلل،
هغوئ د تکړه جنګ کوونکو خِلاف د مالِک خُدائ مدد ونۀ
کړو." ۲۴ یاعیل د ټولو ښځو نه بختوره ده، چې د قینی حِبر
ښځه ده، د ټولو نه بختوره ښځه چې په خېمو کښې اوسېږی.
۲۵ سِسیراه اوبۀ وغوښتلې، خو هغې پئ ورکړل، هغې په یو
ښُکلی جام کښې ورله شُملې راوړې. ۲۶ هغې په یو لاس
کښې د خېمې موږے راوړو، او په بل لاس کښې د مزدور
څټک، هغې سِسیرا ووهلو او د هغۀ کوپړۍ یې ماته کړه، او
تندے یې ورله سورے کړو. ۲۷ د هغې په پښو کښې
راپرېوتلو، وغورزېدلو او د هغې پښو کښې پروت وو. د هغې
په پښو کښې لاندې پرېوتو، هغه په زمکه وغورزېدلو او مړ
شو. ۲۸ د سِسیرا مور د کړکۍ د جالۍ نه بهر نظر واچولو،
هغې تپوس وکړو، "د هغۀ ګاډۍ ولې دومره ناوخته کړو؟
مونږ ولې د هغۀ د ګاډۍ آواز نۀ اورو؟" ۲۹ هوښیارو ښځو
جواب ورکړو، بلکې هغې به ځان ته په خپله بیا بیا دا وئیل،
۳۰ "هغوئ لوټ شوے مال تقسیموی، د هر فوجی دپاره
یوه یا دوه ښځې، د سِسیرا دپاره به رنګ شوې جامې وی،
آو، هغه ښې ګُلکاری شوې ټوکرې چې زما د غاړې دپاره
دی." ۳۱ مالِکه خُدایه، ستا ټول دشمنان دې هم داسې مړۀ
شی، خو ستا دوستان دې د خپل ټول زور سره د ختونکی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نمر په شان وځلیږی.“

او څلوېښت کاله په هغه مُلک کښې امن وو.

## جدعون

۶ ۱ بنی اِسرائیلو د مالِک خُدائ خِلاف بیا ګناه وکړه، نو
هغهٔ د میدیان خلق دې ته پرېښودل چې اووهٔ کاله په هغوئ
بادشاهی وکړی. ۲ میدیانیان د بنی اِسرائیلو نه طاقتور وُو
او بنی اِسرائیلیان د هغوئ نه په غارونو او د غرونو په نورو
محفوظو ځایونو کښې پټېدل. ۳ چې کله به هم بنی اِسرائیلو
څهٔ تخم وکَرلو، نو میدیانیان به د عمالیقیانو او د صحرا د
قبیلو سره راتلل او په هغوئ به یې حمله کوله. ۴ هغوئ به
په هغه مُلک کښې خېمې ودرولې او په جنوب کښې د غزه نه
ګېرچاپېره علاقې پورې فصلونه به یې تباه کول. هغوئ به
ټولې ګډې، څاروی او خرونه بوتلل او بنی اِسرائیلو ته به یې د
ژوند تېرولو دپاره هیڅ هم نهٔ پرېښودل. ۵ هغوئ به د
مُولخانو د لښکر په شان د خپلو څاروو او خېمو سره راتلل.
هغوئ او د هغوئ اوښان د شمېر نه بهر وُو. هغوئ راغلل او
زمکه یې ورانه ویجاړه کړه، ۶ بنی اِسرائیلیان د میدیانیانو
په وجه بېوسه شول. نو بنی اِسرائیلو مالِک خُدائ ته د مدد
دپاره فریاد وکړو. ۷ کله چې بنی اِسرائیلو د میدیانیانو په
وجه مالِک خُدائ ته فریاد وکړو، ۸ نو هغهٔ د هغوئ دپاره
یو پېغمبر راولېږلو او هغهٔ وفرمائیل، ”ما مالِک خُدائ تاسو
په مِصر کښې د غلامۍ نه راوویستلئ. ۹ ما تاسو د
مِصریانو نه او د هغه خلقو نه بچ کړئ چې هغوئ ستاسو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره په دې مُلک کښې جنګ وکړو. چې تاسو مخ په وړاندې
تلئ نو ما هغوئ وشړل او ما تاسو له د هغوئ مُلک درکړو.
۱۰ ما تاسو ته وفرمائيل چې زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک يم او تاسو به د اموريانو معبودانو عبادت نۀ کوئ د چا
په مُلک کښې چې اوس تاسو اوسېږئ. خو تاسو ما ته غوږ
ونۀ نيولو.“ ۱۱ بيا د مالِک خُدائ فرښته د عفره کلی ته
راغله او د خېړې د ونې لاندې کښېناسته چې دا ونه د يوآس
وه، يوآس د ابيعزر د قبيلې سړے وو. د هغۀ زوئ جدعون په
پټه باندې د انګورو په لنګرۍ کښې غنم ټکول، د دې دپاره چې
ميديانيان يې ونۀ ګورى. ۱۲ د مالِک خُدائ فرښته هلته هغۀ
ته راڅرګنده شوه او ورته يې وفرمائيل، ”اے تکړه او طاقتور
سړيه. مالِک خُدائ ستا مل دے.“ ۱۳ جدعون ورته
وفرمائيل، ”صاحِبه، مالِک خُدائ چې زمونږ مل دے نو دا
هر څۀ په مونږ ولې شوى دى؟ هغه ټول عجيبه کارونه چرته
دى چې زمونږ پلار نيکۀ مونږ ته وئيل چې مالِک خُدائ کول،
هغوئ يې څنګه د مِصر نه راوويستل؟ مالِک خُدائ مونږ
پرېښودلى يُو او ميديانيانو ته يې مونږ حواله کړى يُو.“ ۱۴
بيا مالِک خُدائ هغۀ له حُکم ورکړو، ”تکړه شه او ورشه او
بنى اِسرائيليان د ميديانيانو نه بچ کړه. زۀ په خپله تا لېږم.“
۱۵ جدعون ورته په جواب کښې وفرمائيل، ”زۀ بنى
اِسرائيليان څنګه خلاص کړم؟ د منسى په قبيله کښې د ټولو
نه کمزورې قبيله زما ده او زۀ په خپل خاندان کښې د ټولو نه
کشر يم.“ ۱۶ مالِک خُدائ ورته وفرمائيل، ”خو زۀ به ستا
مل يم او تۀ به ميديانيان داسې ووهې لکه چې هغوئ صِرف
يو کس وى.“ ۱۷ جدعون جواب ورکړو، ”کۀ تۀ زما نه
خوشحاله يې نو ما ته څۀ نښې وښايه چې تۀ په رښتيا مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ يې. ۱۸ تهٔ تر هغې پورې دلته ایسار شه چې زهٔ تا له
خپله نذرانه راوړم.“ هغهٔ ورته وفرمائيل، ”زهٔ به ستا تر واپس
راتلو پورې ایسار یم.“ ۱۹ نو جدعون خپل کور ته دننه لاړو
او يو د چېلۍ بچے يې پوخ کړو او د لسو کلو اوړو نه يې
پتيره روټۍ تياره کړه. هغهٔ غوښه په يوه ټوکرۍ کښې کېښوده
او ښوروا يې په يو لوښى کښې واچوله او دا يې د مالِک
خُدائ فرښتې له ورکړل چې د څېړۍ د ونې لاندې وه. ۲۰
فرښتې هغهٔ له حُکم ورکړو، ”غوښه او روټۍ په دې ګټ
باندې کېږده او ښوروا ورباندې واچوه.“ نو جدعون هم
داسې وکړل. ۲۱ بيا د مالِک خُدائ فرښتې چې کومه امسا
نيولې وه د هغې سر يې د غوښې او روټۍ سره ولګولو. د ګټ
نه اور راووتلو او غوښه او روټۍ يې وسوزوله. فرښته بيا پناه
شوه. ۲۲ جدعون ته دا پته ولګېده چې هغهٔ د مالِک خُدائ
فرښته ليدلې ده او په يره کښې هغهٔ وفرمائيل، ”مالِکه خُدايه
پاکه، ما ستا فرښته مخامخ وليدله.“ ۲۳ خو مالِک خُدائ
هغهٔ ته وفرمائيل، ”تا ته دې خير وى. مهٔ يرېږه. تهٔ به نهٔ
مرې.“ ۲۴ جدعون هلته مالِک خُدائ ته يوه قربانګاه جوړه
کړه او ”مالِک خُدائ خير دے“ نوم يې پرې کېښودو. دا تر
اوسه پورې په عفره کښې ولاړه ده چې دا د ابيعزر د قبيلې
ده. ۲۵ په هغه شپه مالِک خُدائ جدعون ته وفرمائيل، ”د
خپل پلار غوَيے او يو بل غوَيے چې د اوو کالونو وى بوځه،
د خپل پلار قربانګاه راوغورزوه چې د بعل دپاره ده او د
هغې په خوا کښې د اشيرې ستنه ماته کړه. ۲۶ په دې لوړ
ځائ باندې مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته يوه صحيح
قربانګاه جوړه کړه. بيا هغه دوېم غوَيے بوځه او د يوې
قربانۍ په توګه يې پوره وسوزوه، د دې په سوزولو کښې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اشیرې د ستنې لرګی استعمال کړه چې تا ړوټې کړې
دی.“ ۲۷ نو جدعون خپل لس نوکران بوتلل او هم هغه شان
يې وکړل چې څنګه مالِک خُدائ ورته فرمائيلی وُو. هغه د
خپل خاندان او د ښار د خلقو نه سخت يرېدو چې د ورځې
يې داسې کړې وے، نو هغۀ د شپې داسې وکړل. ۲۸ کله
چې په ورپسې سحر د ښار خلق وختی پاڅېدل نو هغوئ ته
پته ولګېده چې د بعل قربانګاه او د اشیرې نښې ماتې شوې
دی او دوېم غوَيے په هغه قربانګاه باندې سوزولے شوے
دے چې هلته جوړه شوې وه. ۲۹ هغوئ د يو بل نه تپوس
وکړو، ”دا چا کړی دی؟“ هغوئ ښۀ معلومات وکړو او پته
ورته ولګېده چې د يوآس زوئ جدعون دا کړی دی. ۳۰ نو
بيا هغوئ يوآس ته ووئيل، ”خپل زوئ دلته بهر راوباسه چې
مړ يې کړُو. ځکه چې هغۀ د بعل قربانګاه تباه کړې ده او د
اشیرې ستنه يې ړوټې کړې ده.“ ۳۱ خو يوآس هغه ټولو ته
ووئيل چا يې چې مخالفت کولو، ”تاسو د بعل صفائی کوئ
څۀ؟ تاسو د هغۀ دپاره بحث کوئ؟ هر څوک چې د هغۀ
صفائی کوی نو هغه به د سحر نه مخکښې ووژلے شی. کۀ
بعل خُدائ وی، نو هغه دې خپل ځان بچ کړی. دا د هغۀ
قربانګاه وه چې تباه کړے شوه.“ ۳۲ نو د هغه وخت نه
جدعون په يربعل باندې مشهور شو، کله چې يوآس وئيلی وُو،
”پرېږده چې بعل خپل ځان بچ کړی، دا د هغۀ قربانګاه ده
چې تباه کړے شوه.“ ۳۳ نو ټول ميديانيان، عماليقيان او د
صحرا قبيلې راغونډې شوې، د اُردن سيند نه پورې وتل او د
يزرعيل په مېدان کښې يې خېمې ولګولې. ۳۴ د مالِک خُدائ
روح په جدعون نازل شو، نو هغۀ بيګل وغږولو او د ابيعزر د
قبيلې سړی يې راوغوښتل چې هغۀ پسې روان شی. ۳۵ هغۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د منسى ټولې علاقې دواړو برخو ته پېغام وړُونکى ولېږل چې
هغوئ راوغواړى او چې دهٔ پسې روان شى. هغهٔ د آشر،
زبولون او نفتالى قبيلو ته پېغام وړُونکى ولېږل او هغوئ هم د
دهٔ سره شاملېدو دپاره راغلل. ۳۶ بيا جدعون خُدائ پاک ته
وفرمائيل، ”تهٔ وائې چې دا فيصله دې کړې ده چې تهٔ به ما د
بنى اِسرائيلو د خلاصولو دپاره استعمالوې. ۳۷ ټيک ده، زهٔ
به په درمند باندې دا وړى وغوړوم. خو کهٔ په سحر کښې
پرخه صِرف په وړى باندې وى او په زمکه باندې نهٔ وى، نو
ما ته به پته ولګى چې د بنى اِسرائيلو بچ کولو دپاره به تهٔ ما
استعمالوې.“ ۳۸ نو هم دغه شان وشول. کله چې جدعون
ورپسې سحر وختى پاڅېدو، هغهٔ وړى نچوړ کړه او دومره
ډېره پرخه يې ترې نه وويستله چې د اوبو نه يې يو لوښے
ډک شو. ۳۹ جدعون خُدائ پاک ته وفرمائيل، ”ما ته مهٔ
غصه کېږه، ما له اجازت راکړه چې صِرف يوه خبره وکړم.
ما لږ پرېږده چې په وړى باندې يو بل آزمېښت وکړم. دا ځل
پرېږده چې وړى اوچه وى او زمکه لمده وى.“ ۴۰ په هغه
شپه خُدائ پاک هغه هر څهٔ وکړل. په ورپسې سحر وړى
اوچه وه، خو زمکه په پرخه باندې لونده وه.

## د جدعون ميديانيانو له شکست ورکول

۷ ۱ يوه ورځ جدعون او د هغهٔ ټول سړى وختى پاڅېدل
او د حرود چينې په خوا کښې يې خېمې ولګولې. د ميديانيانو
خېمې د هغوئ شمالى طرف ته په مېدان کښې د موره غر ته
نزدې وې. ۲ مالِک خُدائ جدعون ته وفرمائيل، ”تا سره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې کوم سړی دی دا زما دپاره ډېر زيات دی چې هغوئ له
په ميديانيانو باندې فتح ورکړم. کېدے شی چې هغوئ دا
سوچ وکړی چې هغوئ د خپل طاقت سره دا ګټه موندلې ده،
نو مغروره به شی. ۳ خلقو ته اِعلان وکړه، هر څوک چې
يرېدلې وی يا يې زړونه بائيللی وی نو هغوئ دې واپس کور ته
لاړ شی او مونږ به دلته د جِلعاد د غر سره ايسار شو." نو
دوويشت زره واپس لاړل او لس زره ايسار شول. ۴ بيا
مالِک خُدائ جدعون ته وفرمائيل، "تا سره دا سړی اوس هم
ډېر زيات دی. هغوئ لاندې اوبو ته بوځه او زۀ به هغوئ ستا
دپاره هلته بېل بېل کړم. چې زۀ تا ته ووايم چې دا سړی به تا
سره خامخا ځی نو هغه به ځی او چې کوم سړی درته ووښايم
چې نۀ به ځی نو هغه به نۀ ځی." ۵ جدعون سړی اوبو له
بوتلل او مالِک خُدائ هغۀ ته وفرمائيل، "هغه کسان چې د
سپی په شان په ژبه اوبۀ څښی، د هغه ټولو نه جدا کړه چې په
خپلو ګونډو باندې ټيټ شی او اوبۀ وڅښی." ۶ هلته درې
سوه سړی داسې وُو چې هغوئ په لَپو کښې اوبۀ راواخستلې
او وې څښلې، او نور ټول په خپلو ګونډو باندې ټيټ شول او
اوبۀ يې وڅښلې. ۷ مالِک خُدائ جدعون ته وفرمائيل، "د
دې درې سوو سړو په ذريعه چې په لَپو باندې اوبۀ څښی، زۀ
به تاسو بچ کړم او په ميديانيانو باندې به فتح درکړم. باقی
نور ټول کورونو ته ولېږه." ۸ نو جدعون هغه ټول بنی
اِسرائيليان کور ته ولېږل بغير د هغه درېو سوو نه، چا چې
بيګلې او سامان ساتلے وو. د ميديانيانو کېمپ د هغوئ نه
لاندې په مېدان کښې وو. ۹ په هغه شپه مالِک خُدائ
جدعون له حُکم ورکړو، "پاڅه او په خېمو حمله وکړه، زۀ تا
له په هغوئ باندې فتح درکوم. ۱۰ خو کۀ تۀ د حملې کولو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه یرېږي، نو د خپل نوکر فوراه سره لاندې خېمو ته لاړ شه.
١١ چې هغوئ څۀ وائی نو تۀ به هغه واورې او تا ته به د
حملې کولو حوصله مِلاو شی.“ نو جدعون او د هغۀ نوکر
فوراه د دشمنانو د خېمو غاړې ته لاړل. ١٢ میدیانیان،
عمالیقیان او د صحرا قبیلو سړی د مُولخانو د لښکر په شان
په مېدان کښې خوارۀ شوی وُو او د هغوئ اوښان د سمندر د
شګو په شان بےشمېره وُو. ١٣ کله چې جدعون راورسېدو،
هغۀ واورېدل چې یو سړے خپل ملګری ته خوب بیانوی. هغۀ
وفرمائیل، ”ما خوب ولیدو چې د اوربشو یو ګول روټۍ
راورغړېده او یوه خېمه یې ووهله، خېمه په بل مخ واوړېدله
او راوغورزېدله.“ ١٤ د هغۀ دوست جواب ورکړو، ”دا د
بنی اِسرائیلو تُوره ده چې د یوآس زوئ جدعون دے، د دې
بل هیڅ مطلب نشته. خُدائ پاک هغۀ له په میدیانیانو او
زمونږ په ټول لښکر باندې فتح ورکړې ده.“ ١٥ کله چې
جدعون د هغه سړی د خوب او د هغې د مطلب په حقله
واورېدل، نو هغۀ د مالِک خُدائ عبادت وکړو. بیا هغه واپس
د بنی اِسرائیلو خېمو ته لاړو او وې فرمائیل، ”پاڅئ، مالِک
خُدائ تاسو له د میدیانیانو په لښکر باندې فتح درکوی.“ ١٦
هغۀ درې سوه سړی په درېو ډلو کښې تقسیم کړل او هر یو
سړی له یې یو بیګل او یو منګے ورکړو چې په کښې به چراغ
وو. ١٧ هغۀ هغوئ ته وفرمائیل، ”زۀ چې کله د خېمو غاړې
ته ورسېږم، ما ته ګورئ او چې زۀ څۀ کوم نو هغه شان
وکړئ. ١٨ کله چې زۀ او زما قبیله بیګلې وغږوُو، بیا تاسو
خپلې بیګلې د خېمو نه ګېرچاپېره وغږوئ او داسې نعرې
ووهئ، دپاره د مالِک خُدائ او د جدعون.“ ١٩ جدعون او د
هغۀ سل سړی د نیمې شپې نه لږ مخکښې د خېمو غاړې ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راغلل، هم په هغه وخت پهره دار بدل شوی ؤو. بيا هغوئ
بيګلې وغږولې او چې د هغوئ سره کوم منګی ؤو نو هغه يې
مات کړل، ٢٠ او هغه نورو دوو ډلو هم دغه شان وکړل.
هغوئ ټولو په خپلو ګسو لاسونو کښې چراغونه نيولی ؤو، په
ښو لاسونو کښې يې بيګلې وې او چغې يې وهلې، ”تُوره د
مالِک خُدائ او جدعون دپاره.“ ٢١ ټول سړی د خېمو نه
ګېرچاپېره په خپل خپل ځائ باندې ودرېدل او د دشمن ټول
لښکر وتښتېدو او چغې يې وهلې. ٢٢ کله چې د جدعون
سړو بيګلې غږولې، نو مالِک خُدائ د دشمن لښکر دې ته
جوړ کړو چې د خپلو تُورو سره په يو بل باندې حمله وکړی.
هغوئ د بيت‌سِطه پورې د صريرات طرف ته او طبات ته
نزدې ابيل‌محوله پورې منډې وهلې. ٢٣ بيا د نفتالی او آشر
قبيلو او د منسى د دواړو برخو نه سړی راوغوښتلے شول او
هغوئ په ميديانيانو پسې لاړل. ٢٤ جدعون د غرونو مُلک
ټول اِفرائيم ته پېغام وړُونکی ولېږل چې ووائی، ”لاندې راشئ
او د ميديانيانو سره جنګ وکړئ. د اُردن سيند او د بيت‌باره
پورې ټول نِهرونه ونيسئ، چې ميديانيان ترې نه راپورې نۀ
وځی.“ نو د اِفرائيم سړی راغونډ کړے شول او هغوئ د اُردن
سيند او د بيت‌باره پورې نِهرونه ونيول. ٢٥ هغوئ د
ميديانيانو دوه مشران، عوريب او زئيب ونيول، عوريب يې د
عوريب په ګټ باندې ووژلو او زئيب يې د زئيب د انګورو په
لنګرۍ کښې ووژلو. هغوئ په ميديانيانو پسې ؤو او د عوريب
او زئيب سرونه يې جدعون له راوړل، چې هغه اوس د اُردن
نمرخاتۀ طرف ته وو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د میدیانیانو آخری شکست

٨ ١ بیا د اِفرائیم سړو جدعون ته ووئیل، ”کله چې تهٔ د
میدیانیانو سره جنګ له تلې نو مونږ دې ولې ونهٔ غوښتلو؟ تا
مونږ سره داسې سلوک ولې وکړو؟“ او هغوئ ورباندې
سخت تنقید وکړو. ٢ خو هغهٔ وفرمائیل، ”ما چې څهٔ
کولے شول دا د هغې په نسبت هیڅ هم نهٔ دی څهٔ چې تاسو
کړی دی. کهٔ د اِفرائیم سړو لږ څهٔ هم کړی دی دا د هغې نه
ښهٔ دی څهٔ چې زما ټولې قبیلې کړی دی. ٣ د دې نه
علاوه، د خُدائ پاک د طاقت په ذریعه تاسو د میدیانیانو دوه
مشران عوریب او زئیب ووژل. ما داسې څهٔ نهٔ دی کړی چې
ستاسو سره ځان برابر کړم.“ کله چې هغهٔ دا وفرمائیل نو د
هغوئ غصه سړه شوه. ٤ په دې وخت کښې جدعون او د
هغهٔ درې سوه سړی د اُردن سیند له راغلی وُو او د دې نه
پورې وتی هم وُو. هغوئ ډېر ستړی وُو، خو بیا هم په دشمن
پسې وُو. ٥ کله چې هغوئ سُکات ته ورسېدل، نو هغهٔ د
ښار خلقو ته وفرمائیل، ”زما سړو له لږه روټۍ ورکړئ.
هغوئ ډېر ستړی دی او زهٔ د میدیانیانو بادشاهان زِبح او
ضلمنع پسې یم.“ ٦ خو د سُکات مشرانو ووئیل، ”مونږ
ستاسو لښکر له خوراک ولې ورکړو؟ تاسو تر اوسه پورې
زِبح او ضلمنع نهٔ دی نیولی.“ ٧ نو جدعون وفرمائیل،
”ټیک ده. کله چې مالِک خُدائ زِبح او ضلمنع ما ته په حواله
کړی، نو ستاسو غوښې به د صحرا په ازغو او غنو باندې
وشلوم.“ ٨ جدعون فنواېل ته لاړو او هلته یې خلقو ته هم
دغه شان درخواست وکړو، خو د فنواېل خلقو هم د سُکات د
خلقو په شان هم دغه شان جواب ورکړو. ٩ نو هغهٔ هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته وفرمائيل، "زۀ ځم، په خير سره به واپس راځم او ستاسو
دا برج به راغورزوم." ۱۰ زِبح او ضلمنع په قرقور کښې د
خپل لښکر سره وُو. د صحرا د قبيلو د لښکر نه صِرف
پينځلس زره سړى پاتې وُو، يو لاک او شل زره فوجيان
وژلے شوى وُو. ۱۱ جدعون د نوبح او يګبها نمرخاتۀ طرف
ته د قافِلو په لاره لاړو او ناڅاپى يې په لښکر باندې حمله
وکړه. ۱۲ د ميديانيانو دوه بادشاهان زِبح او ضلمنع
وتښتيدل، خو هغه ورپسې وُو او وې نيول او د هغوئ ټول
لښکر يې په وارخطايئ آخته کړو. ۱۳ کله چې جدعون د
حِرس درې په لاره د جنګ نه واپس روان وو، ۱۴ هغۀ د
سُکات يو زلمے ونيولو او تپوس يې ترې نه وکړو. هغه زلمى
جدعون ته د سُکات د اووۀ اوياؤ مشرانو نومونه وليکل. ۱۵
بيا جدعون د سُکات خلقو له لاړو او ورته يې وفرمائيل،
"تاسو ته ياد دى چې زما د مدد کولو نه مو اِنکار وکړو؟ او
وئيل مو چې مونږ ستا ستړى لښکر له هيڅ خوراک نۀ شو
ورکولے ځکه چې تا زِبح او ضلمنع نۀ دى نيولى. نو
وګورئ، هغوئ دا دى." ۱۶ بيا هغۀ د صحرا نه ازغى او
غنې يوړې او د سُکات مشرانو له يې ورباندې سزا ورکړه.
۱۷ هغۀ په فنوايل کښې برج هم راغورزولو او د ښار خلق يې
ووژل. ۱۸ بيا جدعون زِبح او ضلمنع نه تپوس وکړو، "تاسو
په تبور کښې څوک وژلى دى؟" هغوئ جواب ورکړو، "هغوئ
ستا په شان وُو، هر يو کس د بادشاه د زوئ په شان وو."
۱۹ جدعون ورته وفرمائيل، "هغوئ زما ورونړه وُو، زما د
خپلې مور زامن وُو. زۀ دا قسم خورم کۀ تاسو هغوئ وژلى
نۀ وے، نو ما به تاسو نۀ وژلئ." ۲۰ بيا هغۀ خپل مشر زوئ
يتر ته وفرمائيل، "لاړ شه او هغوئ ووژنه." خو هلک خپله

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تُوره راوڼهٔ ویستله، ځکه چې هغه هلک وو او یرېدلو. ۲۱ بیا
زِبح او ضلمنع جدعون ته ووئیل، "راشه او په خپله مونږ
ووژنه. څنګه چې سړے وی هغسې یې طاقت وی." نو
جدعون هغوئ ووژل او هغه ټول کالی یې ترې نه یوړل چې د
هغوئ د اوښانو په غاړو کښې وُو. ۲۲ د هغې نه پس، بنی
اِسرائیلو جدعون ته ووئیل، "تهٔ او ستا نه پس دې ستا اولاد
زمونږ بادشاهان شی ځکه چې تا مونږ د میدیانیانو نه بچ کړی
یُو." ۲۳ جدعون جواب ورکړو، "نهٔ به زهٔ او نهٔ به زما زوئ
ستاسو حکمران وی. مالِک خُدائ به په خپله ستاسو
حکمران وی." ۲۴ خو هغهٔ خپله خبره جاری وساتله، "زهٔ
به ستاسو نه یو څیز وغواړم. هر یو کس دې ما له هغه والۍ
راکړی کومې چې تاسو اخستې دی." (د میدیانیانو دا رِواج
وو چې هغوئ به د سرو زرو والۍ اچولې.) ۲۵ خلقو جواب
ورکړو، "مونږ به په داسې کولو خوشحاله شُو." هغوئ یوه
کپړه خوره کړه او چې هغوئ په لوټ مار کښې کومې د سرو
زرو والۍ اخستې وې هغه یې وراندې کېښودې. ۲۶
جدعون ته چې کومې د سرو زرو والۍ مِلاو شوې وې هغه
تقریباً شل کلو وې او په دې کښې کالی، هارونه او د کاسنی
رنګ جامې شاملې نهٔ وې چې د میدیان بادشاهانو اغوستې
او هغه پټه هم په کښې شامله نهٔ وه چې د هغوئ د اوښانو په
غاړه وه. ۲۷ جدعون د سرو زرو یو بُت جوړ کړو او په
خپل ښار عفره کښې یې کېښودو. ټولو بنی اِسرائیلو خُدائ
پاک پرېښودو او هلته د بُت عبادت له لاړل. دا د جدعون او
د هغهٔ د خاندان دپاره یو دام جوړ شو. ۲۸ نو میدیانیانو د
بنی اِسرائیلو نه شکست وخوړو او هغوئ نور د خطرې سبب
نهٔ شول. څلوېښت کاله په هغه مُلک کښې امن وو، تر دې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پورې چې جدعون مړ شو.

## د جدعون مرګ

٢٩ جدعون واپس خپل کور ته لاړو او هلته اوسېدو. ٣٠ د
هغهٔ اویا زامن وُو، ځکه چې د هغهٔ ډېرې ښځې وې. ٣١ په
شِکم کښې د هغهٔ یوه وینځه هم وه، د هغې نه يې يو زوئ وشو
او ابی‌مَلِک نوم يې پرې کېښودو. ٣٢ د یوآس زوئ جدعون
ښهٔ په پوخ عُمر کښې مړ شو او د ابیعزر د قبيلې په ښار عفره
کښې د خپل پلار په ادیره کښې ښخ شو. ٣٣ چې څنګه
جدعون مړ شو نو بنی اِسرائيلو بيا د خُدائ پاک سره
بې‌غېرتی وکړه او د بعل د بُتانو عبادت يې وکړو. هغوئ يو
بُت جوړ کړو چې نوم يې بعل‌بريت وو، ٣٤ او د مالِک
خُدائ خپل خُدائ پاک خِدمت يې نور ونهٔ کړو، چا چې
هغوئ د ګېرچاپېره د خپلو ټولو دشمنانو نه بچ کړی وُو. ٣٥
جدعون چې د بنی اِسرائيلو سره څومره ښهٔ کړی وُو نو
هغوئ د هغهٔ خاندان ته هيڅ وفاداری ونهٔ ښودله.

## ابی‌مَلِک

٩ ١ د جدعون زوئ ابی‌مَلِک د شِکم ښار ته لاړو، چرته
چې د هغهٔ د مور ټول خپلوان اوسېدل او هغوئ ته يې ووئيل
٢ چې د شِکم د خلقو نه تپوس وکړی، ”ستاسو څنګه
خوښه ده چې د جدعون اویا واړه زامن دريواندې بادشاهی
وکړی او یا کهٔ صِرف يو کس؟ ياد ساتئ چې ابی‌مَلِک ستاسو
خپله وينه ده.“ ٣ د هغهٔ د مور خپلوانو د شِکم خلقو سره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دې په حقله د هغۀ دپاره خبره وکړه او د شِکم خلقو دا
فيصله وکړه چې د ابىمَلِک خبره ومنی ځکه چې هغه يې
رشتهدار وو. ۴ هغوئ هغۀ له د بعلبريت د لوط عبادتخانې
نه اويا د سپينو زرو سيکې ورکړې او په دې پيسو هغۀ د
بېکاره بدمعاشانو يوه ډله ځان سره کړه چې ملګرتيا يې
وکړی. ۵ هغه په عفره کښې د خپل پلار کور ته لاړو او
هلته يې د يو کاڼی دپاسه خپل اويا ورونړه ووژل، چې د
جدعون زامن وُو. خو د جدعون کشرے زوئ يوتام پټ شو
او ونۀ وژلے شو. ۶ بيا د شِکم او بيتمِلو ټول خلق
راغونډ شول او په شِکم کښې د څېړۍ پاکې ونې ته لاړل،
چرته چې هغوئ ابىمَلِک بادشاه جوړ کړو. ۷ کله چې
يوتام د دې نه خبر شو، نو هغه لاړو او د ګِرزيم د غرۀ په سر
ودرېدو او هغوئ ته يې چغې ووهلې، ”اے د شِکم خلقو،
تاسو زما خبره واورئ تاسو زما خبره واورئ تر دې چې
خُدائ پاک ستاسو خبره واوری. ۸ يو ځل ونې راغونډې
شوې چې د ځان دپاره يو بادشاه خوښ کړی. هغوئ د
زيتُونو ونې ته ووئيل چې تۀ زمونږ بادشاه شه. ۹ د زيتُونو
ونې جواب ورکړو، ولې زۀ دې د زيتُونو تېل ورکول بند کړم
کوم چې د معبودانو او انسانانو د درناوی دپاره استعماليږی
صرف د دې دپاره چې د نورو ونو مشره شم. ۱۰ بيا ونو د
اينځر ونې ته ووئيل چې، تۀ راشه او زمونږ بادشاه شه. ۱۱
خو د اينځر ونې جواب ورکړو، ولې زۀ دې خپله خوَږه ميوه
پيدا کول بند کړم، صرف د دې دپاره چې د نورو ونو مشره
شم. ۱۲ نو بيا ونو د انګورو بوټی ته ووئيل چې، تۀ راشه او
زمونږ بادشاه شه. ۱۳ خو د انګورو بوټی ورته په جواب
کښې ووئيل، ولې زۀ دې خپل مے پيدا کول بند کړم، چې په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې باندې معبودان او انسانان خوشحاليږي، صرف د دې
دپاره چې د نورو ونو مشره شم. ۱۴ نو بيا ټولو ونو د ازغو
غنې ته ووئيل چې، ته راشه او زمونږ بادشاه شه. ۱۵ د ازغو
غنې جواب ورکړو چې، کهٔ تاسو په رښتيا سره ما خپل
بادشاه جوړول غواړئ، نو زما د سورى لاندې پناه واخلئ.
کهٔ تاسو داسې ونهٔ کړل نو زما د ازغو څانګو نه به اور بل
شى او د لبنان د دِيار ونې به وسوزوى.“ ۱۶ نو يوتام خپله
خبره جارى وساتله چې، ”کله تاسو ابىمَلِک بادشاه جوړ
کړو نو تاسو په رښتيا مخلِصه او رښتونى وئ څهٔ؟ تاسو د
جدعون د ياد څهٔ درناوى وکړو او د هغهٔ د خاندان سره مو
ښهٔ سلوک وکړو څهٔ لکه څنګه چې د هغهٔ د کارونو حق
جوړيږى؟ ۱۷ هغه راپه ياد کړئ چې زما پلار ستاسو دپاره
جنګ وکړو. هغهٔ خپل ژوند په خطره کښې واچولو چې تاسو
د ميديانيانو نه بچ کړى. ۱۸ خو نن تاسو زما د پلار د
خاندان خِلاف شوئ. تاسو د هغهٔ زامن اويا سړى د يو کاڼى
دپاسه ووژل او دا ځکه چې د هغهٔ د وينځې زوئ ابىمَلِک
ستاسو رشتهدار دے او تاسو هغه د شِکم بادشاه جوړ کړے
دے. ۱۹ کهٔ تاسو نن د جدعون او د هغهٔ اولاد سره د عزت
او ښهٔ ايمان سلوک وکړو، نو تاسو دې د ابىمَلِک نه
خوشحاله شئ او هغه دې ستاسو نه خوشحاله شى. ۲۰ خو
کهٔ داسې نهٔ وى نو ابىمَلِک ته دې اور بل شى او د شِکم او
بيتمِلو خلق دې وسوزوى. د شِکم او بيتمِلو د خلقو نه دې
اور بل شى او ابىمَلِک دې وسوزوى.“ ۲۱ يوتام د خپل
ورور ابىمَلِک نه يريدو نو ځکه هغه وتښتيدو او بير ته د
اوسيدو دپاره لاړو. ۲۲ ابىمَلِک په بنى اِسرائيلو باندې درې
کاله بادشاهى وکړه. ۲۳ بيا خُدائ پاک د ابىمَلِک او د شِکم
Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خلقو په مینځ کښې دشمنی پیدا کړه او هغوئ د ابی‌مَلِک
خِلاف بغاوت وکړو. ۲۴ داسې د دې دپاره وشول چې
ابی‌مَلِک او د شِکم خلقو ته د خپلو بدو سزا مِلاو شی چا چې
د هغهٔ مدد کړے وو چې د جدعون اویا زامن ووژنی. ۲۵ د
شِکم خلقو د ابی‌مَلِک خِلاف د غرونو په سرونو باندې په پټه
ځائ کښې سړی کښېنول او هر څوک هم چې په هغه لاره
تېرېدل نو هغوئ به یې لوټ کول. نو ابی‌مَلِک د دې نه خبر
شو. ۲۶ د عبید زوئ جعل د خپلو وروڼو سره شِکم ته راغلو
او د هغه ځائ خلقو په هغهٔ باندې اعتبار وکړو. ۲۷ هغوئ
ټول خپلو د انګورو باغونو ته دننه لاړل او انګور یې
راوشوکول او مے یې ترې نه جوړ کړل او یوه مېله یې جوړه
کړه. هغوئ د خپل خُدائ د عبادت ځائ ته لاړل، چرته چې
هغوئ خوراک څښاک وکړو او ابی‌مَلِک ته یې کنځل وکړل.
۲۸ د عبید زوئ جعل ووئیل، ”دا په شِکم کښې مونږ څهٔ
قِسم سړی یُو؟ مونږ د ابی‌مَلِک خِدمت ولې کوُو؟ هغهٔ دے
څوک؟ هغه د جدعون زوئ دے. او زبول ته د هغهٔ نه حُکم
ملاویږی، خو مونږ ولې د هغهٔ خِدمت وکړُو؟ د خپل پلار نیکهٔ
همور وفادار اوسئ، چا چې ستاسو د قبیلې بنیاد اېښے وو.
۲۹ زما دا ارمان دے چې زهٔ د دې خلقو مشر وے نو ما به
د ابی‌مَلِک نه ځان خلاص کړے وے. ما به هغهٔ ته وئیلی
وے چې خپل لښکر تیار کړه او بهر د جنګ دپاره راووځه.“
۳۰ د هغه ښار حکمران زبول چې کله هغه څهٔ واورېدل چې
جعل وئیلی وُو نو په غصه شو. ۳۱ هغهٔ په ارومه کښې
ابی‌مَلِک ته پیغام وړُونکی ولېږل چې داسې ورته ووائی، ”د
عبید زوئ جعل او د هغهٔ وروڼه شِکم ته راغلی دی او هغوئ
د ښار خلق لمسوی چې ستا خِلاف بغاوت وکړی. ۳۲ نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوس، تا او ستا خلقو له په کار دی چې لاړ شئ او په پټو
کښې پټ شئ. ۳۳ سبا سحر چې څنګه نمر راوخېژی نو
تاسو پاڅئ او په ښار باندې ناڅاپه حمله وکړئ. نو چې کله
جعل او د هغهٔ سړی ستاسو خِلاف راوځی، نو چې څهٔ مو
خوښه وی هغه ورسره وکړئ.“ ۳۴ نو ابی‌مَلِک او د هغهٔ
ټول سړی د شپې لاړل او د شِکم نه بهر په څلورو ډلو کښې
پټ شول. ۳۵ نو د عبید زوئ جعل بهر تلے وو او د ښار د
دروازې په خولهٔ کښې ولاړ وو او هم په هغه وخت ابی‌مَلِک د
خپلو فوجیانو سره د پټو ځایونو نه راووتلو. ۳۶ جعل هغوئ
ولیدل او زبول ته یې ووئیل، ”ګوره، د غرونو د سرونو نه
سړی راروان دی.“ زبول جواب ورکړو، ”هغه سړی نهٔ دی.
هغه صرف د غرونو سوری دی.“ ۳۷ جعل ورته بیا ووئیل،
”ګوره، د غرهٔ د سر نه سړی راکوزیږی او یوه ډله د قسمت
ښودونکی څېړۍ د ونې نه په لار راروانه ده.“ ۳۸ بیا زبول
هغهٔ ته ووئیل، ”اوس ستا لافې چرته دی؟ تهٔ هم هغه کس وې
چې تا وئیل چې مونږ د دې سړی ابی‌مَلِک خِدمت ولې وکړُو.
دا هغه سړی دی چې تا ورسره د نفرت سلوک کولو. اوس
لاړ شه او جنګ ورسره وکړه.“ ۳۹ جعل د شِکم خلق بوتلل
او د ابی‌مَلِک سره یې جنګ وکړو. ۴۰ جعل وتښتېدو او
ابی‌مَلِک ورپسې وو. د ښار د دروازې نه د ننوتلو نه مخکښې
ډېر کسان زخمیان شول. ۴۱ ابی‌مَلِک په اورمه کښې
اوسېدو او زبول د شِکم نه جعل او د هغهٔ وروڼه وشړل، نور
هلته نهٔ شول اوسېدلے. ۴۲ په ورپسې ورځ ابی‌مَلِک ته پته
ولګېده چې د شِکم خلق پټو ته راووتل، ۴۳ نو هغهٔ خپل
سړی بوتلل، په درېو ډلو کښې یې تقسیم کړل، په پټو کښې
پټ شول او اِنتظار یې کولو. کله چې هغهٔ ولیدل چې خلق د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښار ته بهر روان دی، نو هغه د پټ ځائ نه د هغوئ د وژلو
دپاره راووتلو. ۴۴ کله چې ابی‌مَلِک او د هغهٔ قبيله په تېزئ
سره د ښار د دروازې د حِفاظت دپاره مخکښې شوه، نو هغه
دوو نورو ډلو په پټو کښې په خلقو باندې حمله وکړه او ټول
يې ووژل. ۴۵ ټوله ورځ جنګ جاری وو. ابی‌مَلِک ښار
قبضه کړو، د هغې خلق يې ووژل، ښار يې وران کړو او زمکه
يې په مالګه پټه کړه. ۴۶ کله چې د شِکم په قلعه کښې ټول
مشران سړی د دې نه خبر شول، نو هغوئ د بعل‌بريت د لوظ
عبادتخانې په مضبوط ځائ کښې پناه ولټوله. ۴۷ ابی‌مَلِک
خبر شو چې هغوئ هلته راغونډ شوی دی، ۴۸ نو هغه د
خپلو سړو سره د ضلمون غر ته وختلو. هلته هغهٔ يو تبر
واخستلو، د ونې څانګه يې ماته کړه او په خپله اوږه يې
کېښوده. هغهٔ خپلو سړو ته ووئيل چې، ”زر شئ او هم دغه
شان وکړئ.“ ۴۹ نو هر يو سړی د ونې څهٔ څانګې ماتې
کړې، بيا هغوئ ابی‌مَلِک پسې لاړل او لرګی يې د قلعې
دېوالونو سره ډېرے کړل. هغوئ په دې باندې اور بَل کړو،
هغه دننه خلق د نورو ټولو خلقو سره مړهٔ شول چې په قلعه
کښې وُو. دا تقريباً زر سړی او ښځې وې. ۵۰ ابی‌مَلِک
تيبض ته لاړو، د ښار نه يې ګېره واچوله او قبضه يې کړو.
۵۱ هلته يو مضبوط برج وو او په ښار کښې هر يو سړی او
ښځې، سره د مشرانو هغې ته ورمنډه کړه. خپل ځانونه يې په
کښې بند کړل او پاس چت ته وختل. ۵۲ کله چې ابی‌مَلِک
په برج باندې حمله کولو له راغلو، نو هغه دروازې ته ورَغلو
چې په برج باندې اور بَل کړی. ۵۳ خو يوې ښځې د هغهٔ په
سر باندې د بره نه د ژرندې پل وروغورزولو او د هغهٔ کوپړئ
يې ماته کړه. ۵۴ نو هغهٔ زر هغه زلمے راوغوښتلو کوم چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغهٔ وسله وړله او حُکم يې ورکړو، ”خپله تُوره راوباسه او
ما ووژنه. زهٔ دا نهٔ غواړم چې څوک ووائی چې زهٔ يوې ښځې
وژلے يم.“ نو هغه زلمی ترې نه تُوره په بل طرف وويستله او
هغه مړ شو. ۵۵ کله چې بنی اِسرائيلو وليدل چې ابی‌مَلِک
مړ شو، نو هغوئ ټول کور ته لاړل. ۵۶ نو داسې خُدائ پاک
ابی‌مَلِک له د هغو بدو بدله ورکړه کومې بد چې هغهٔ د خپل پلار
خِلاف کړی وُو چې اويا ورونه يې وژلی وُو. ۵۷ خُدائ پاک
د شِکم خلقو له هم د هغوئ د بدمعاشۍ په وجه سخته سزا
ورکړه، څنګه چې د جدعون زوئ يوتام وئيلی وُو چې په
هغوئ به داسې کيږی چې کله هغهٔ پرې لعنت وئيلو.

## تولع

۱۰ ۱ د ابی‌مَلِک د مرګ نه پس د دودو نمسے او د فُوه
زوئ، تولع د بنی اِسرائيلو د بچ کولو دپاره راغلو. هغه د
يساکار د قبيلې نه وو او د اِفرائيم د غرونو په مُلک سمير
کښې اوسېدو. ۲ هغه درويشت کاله د بنی اِسرائيلو قاضی
وو. بيا هغه مړ شو او په سمير کښې ښخ شو.

## يائير

۳ د تولع نه پس يائير د جِلعاد نه راغلو. هغه دوويشت کاله
د بنی اِسرائيلو قاضی وو. ۴ د هغهٔ دېرش زامن وُو چا چې
په دېرشو خرونو سورلی کړې وه. د جِلعاد په مُلک کښې د
هغوئ دېرش ښارونه وُو، چې تر اوسه پورې د يائير په نوم
يادېږی. ۵ يائير مړ شو او په قامون کښې ښخ شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# اِفتاح

۶ بنی اِسرائیلو یو ځل بیا د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړه
او د بعل او عستارات او هم داسې د شام، د صیدا، د موآب،
د عمون او د فلستیانو د معبودانو عبادت یې وکړو. هغوئ
مالِک خُدائ پرېښودو او د هغهٔ عبادت کول یې بس کړل.
۷ نو مالِک خُدائ بنی اِسرائیلو ته په قهر شو او فلستیانو
او عمونیانو له یې موقع ورکړه چې بنی اِسرائیلو له شکست
ورکړی. ۸ هغوئ اتلس کاله هغه ټول بنی اِسرائیل په
تکلیف کښې واچول او ظلم زیاتے یې ورسره کولو کوم چې
په جِلعاد کښې د اُردن سیند نمرخاتهٔ طرف ته د اموریانو په
مُلک کښې اوسېدل. ۹ عمونیان د اُردن نه هم پورې وتل
چې د یهوداه، بنیامین او اِفرائیم قبیلو سره جنګ وکړی. بنی
اِسرائیلیان په سخت کړاؤ کښې وُو. ۱۰ نو بنی اِسرائیلو
مالِک خُدائ ته فریاد وکړو او وې وئیل، "مونږ ستا خِلاف
ګناه کړې ده، ځکه چې مونږ تهٔ، زمونږ خپل خُدائ پاک
پرېښودې او د بعل د بُتانو عبادت مو وکړو." ۱۱ مالِک
خُدائ هغوئ له دا جواب ورکړو، "مِصریانو، اموریانو،
عمونیانو، فلستیانو، ۱۲ صیدانیانو، عمالیقیانو او ماعونیانو
په تېره زمانه کښې تاسو سره ظلم زیاتے کولو او تاسو ما ته
فریاد وکړو. ما تاسو د هغوئ نه بچ نهٔ کړئ څهٔ؟ ۱۳ خو
تاسو بیا هم زهٔ پرېښودم او د نورو معبودانو عبادت مو
وکړو، نو زهٔ به بیا تاسو نهٔ بچ کوم. ۱۴ لاړ شئ او هغه
معبودانو ته فریاد وکړئ چې تاسو خوښ کړی دی. کله چې
تاسو په تکلیف کښې یئ نو هغوئ له موقع ورکړئ چې تاسو
بچ کړی." ۱۵ خو بنی اِسرائیلو مالِک خُدائ ته ووئیل،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”مونږ ګناه کړې ده. څۀ چې ستا خوښه وی نو هغه راسره
وکړه، خو نن مونږ بچ کړه.“ ۱۶ نو هغوئ د پردو معبودانو
نه ځان خلاص کړو او د مالِک خُدائ عبادت يې وکړو، نو د
بنی اِسرائيلو په تکليف باندې د هغۀ زړۀ وسوزيدو. ۱۷ بيا د
عمونيانو لښکر د جنګ دپاره تيارے وکړو او په جِلعاد کښې
يې خېمې ولګولې. بنی اِسرائيل هم راغونډ شول او په مصفاه
کښې يې خېمې ولګولې. ۱۸ هلته خلقو او د بنی اِسرائيلو د
قبيلو مشرانو يو بل ته ووئيل، ”څوک چې په عمونيانو باندې
وړومبے حمله وکړی نو هغه به د جِلعاد په ټولو خلقو باندې
مشر شی.“

## ۱۱

۱ د جِلعاد يو بهادر فوجی اِفتاح د يوې کنجرې زوئ
وو. د هغۀ د پلار هم جِلعاد نوم وو. ۲ د جِلعاد د خپلې
ښځې نه نور زامن هم وُو او کله چې هغوئ لوئ شول، نو
اِفتاح يې مجبور کړو چې د کور نه لاړ شی. هغوئ هغۀ ته
ووئيل، ”تا ته به زمونږ د پلار په ميراث کښې هيڅ هم نۀ
ملاويږی، تۀ د بلې ښځې زوئ يې.“ ۳ اِفتاح د خپلو وروڼو
نه وتښتېدو او د طوب په مُلک کښې اوسېدو. هلته د بې‌کاره
بدمعاشانو ډله د هغۀ سره شوه او هغوئ به د هغۀ سره
ګرځېدل. ۴ لږه موده پس عمونيان د بنی اِسرائيلو خِلاف
جنګ له لاړل. ۵ کله چې داسې وشول نو د جِلعاد مشران
لاړل چې اِفتاح د طوب مُلک نه واپس راولی. ۶ هغوئ
ووئيل، ”راشه او د عمونيانو خلاف په جنګ کښې زمونږ
مشر شه.“ ۷ خو اِفتاح ورته ووئيل، ”تاسو زما نه دومره
نفرت وکړو چې دې ته مو مجبور کړم چې د خپل پلار د کور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه لاړ شم. اوس چې تاسو په تکليف کښې يئ نو ما له ولې
راغلی يئ؟“ ٨ هغوئ اِفتاح ته ووئيل، ”اوس مونږ تا له ځکه
راواپس شُو چې غواړُو چې مونږ سره لاړ شې او د عمونيانو
سره جنګ وکړې او د جِلعاد د ټولو خلقو مشرى وکړې.“
٩ اِفتاح هغوئ ته ووئيل، ”ښه ټيک ده کۀ تاسو ما د ځان
سره واپس بوځئ چې عمونيانو سره جنګ وکړم او مالِک
خُدائ ما له فتح راکړى، نو زۀ به ستاسو مشر شم.“ ١٠
هغوئ ورته په جواب کښې ووئيل، ”مونږ ته منظوره ده.
مالِک خُدائ زمونږ ګواه دے.“ ١١ نو اِفتاح د جِلعاد
مشرانو سره لاړو او خلقو هغه د قبيلو مشر او فوجى مشر
جوړ کړو. اِفتاح په مصفاه کښې د مالِک خُدائ په وړاندې
خپل د ټرون خبرې بيان کړې. ١٢ بيا اِفتاح د عمون بادشاه
له پيغام وړُونکى ولېږل چې ورته ووائى، ”تۀ زمونږ سره څۀ
لانجه لرې؟ تا زمونږ په مُلک باندې ولې حمله کړې ده؟“ ١٣
د عمون بادشاه د اِفتاح پيغام وړونکو ته جواب ورکړو، ”کله
چې بنى اِسرائيليان د مِصر نه راووتل، نو هغوئ د ارنون
سيند نه واخله تر يبوق سيند او د اُردن سيند پورې زما مُلک
ونيولو. نو اوس به تۀ ما له دا بغير د جنګ جګړې واپس
راکوې.“ ١٤ اِفتاح د عمون بادشاه ته واپس پيغام وړُونکى
ولېږل ١٥ چې داسې ورته ووائى، ”دا رښتيا نۀ دى چې بنى
اِسرائيلو د موآب يا د عمون مُلک نيولے دے. ١٦ داسې
وشول يعنې کله چې بنى اِسرائيليان د مِصر نه لاړل، نو هغوئ
د صحرا په لاره بحرِقُلزم ته روان شول او قادِس ته راغلل.
١٧ بيا هغوئ د ادوم بادشاه له پيغام وړُونکى ولېږل چې
اجازت ترې نه وغواړى چې د هغۀ په مُلک کښې تېر شى.
خو د ادوم بادشاه هغوئ نۀ پرېښودل. هغوئ د موآب بادشاه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته هم ووئيل، خو هغهٔ هم پرېِ نهٔ ښودل چې د هغهٔ په مُلک
کښې تېر شی. نو بنی اِسرائيليان په قادِس کښې ايسار شول.
۱۸ بيا هغوئ په صحرا کښې روان ؤو، د ادوم او د موآب
مُلک نه تاوېدل تر دې پورې چې د موآب نمرخاتهٔ طرف ته
راغلل چې د ارنون سيند بل طرف ته وو. هغوئ هلته خېمې
ولګولې، خو هغوئ د ارنون نه پورې نهٔ وتل ځکه چې دا د
موآب د حد پوله وه. ۱۹ بيا بنی اِسرائيلو په حسبون کښې د
اموريانو بادشاه سيحون ته پېغام ورُونکی ولېږل، چې د هغهٔ
نه اجازت وغواړی چې هغوئ د هغهٔ په مُلک کښې تېر شی او
خپل مُلک ته لاړ شی. ۲۰ خو سيحون بنی اِسرائيليان تېرېدو
ته نهٔ پرېښودل ځکه چې په هغوئ بې‌اعتباره وو. هغهٔ خپل
ټول لښکر راغونډ کړو، په يهض کښې يې خېمې ولګولې او په
بنی اِسرائيلو يې حمله وکړه. ۲۱ خو مالِک خُدائ د بنی
اِسرائيلو خُدائ پاک، بنی اِسرائيلو له په سيحون او د هغهٔ په
لښکر باندې فتح ورکړه. نو بنی اِسرائيلو د هغه اموريانو هغه
ټوله علاقه قبضه کړه کوم چې په هغه مُلک کښې اوسېدل.
۲۲ هغوئ په جنوب کښې د ارنون نه واخله په شمال کښې
تر يبوق پورې او نمرخاتهٔ طرف ته د صحرا نه واخله
نمرېرېواتهٔ طرف ته د اُردن سيند پورې د اموريانو ټوله علاقه
قبضه کړه. ۲۳ نو دا مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو خُدائ
پاک وو چا چې د خپلو خلقو بنی اِسرائيلو دپاره اموريان
وشړل. ۲۴ چې تاسو له څهٔ هم ستاسو معبود کموس
درکړی دی نو هغه به ستاسو سره وی. خو چې مالِک
خُدائ، زمونږ خُدائ پاک مونږ له څهٔ هم راکړی دی هغه به
زمونږ سره وی. ۲۵ ستاسو خيال دا دے څهٔ چې تاسو د
موآب د بادشاه د صفور د زوئ بلق نه ښهٔ يئ؟ هغهٔ کله بنی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِسرائیلو ته د جنګ دعوت ورکړے دے څۀ؟ هغۀ کله زمونږ
خِلاف جنګ کړے دے څۀ؟ ۲۶ بنی اِسرائیلو درې سوه
کالو راسې حسبون او عیروعیر او د دې نه ګېرچاپېره
ښارونه او د ارنون سیند په غاړه ټول ښارونه قبضه کړی
دی. تاسو په هغه وخت هغه واپس ولې نۀ وُو نیولی؟ ۲۷ نه،
ما ستاسو سره هیڅ بد نۀ دی کړی. تاسو دا بد کوئ چې زما
سره جنګ کوئ. مالِک خُدائ قاضی دے. هغه به نن د بنی
اِسرائیلو او عمونیانو په مینځ کښې فېصله وکړی چې څوک
په حقه دی.“ ۲۸ خو د عمون بادشاه، د اِفتاح د طرف نه
دې پېغام ته هیڅ پام ونۀ کړو. ۲۹ بیا د مالِک خُدائ روح په
اِفتاح نازل شو. هغه په جِلعاد او په منسی کښې تېر شو او په
جِلعاد کښې مصفاه ته راواپس شو او د هغه ځائ نه یې د
عمونیانو خِلاف روان شو. ۳۰ اِفتاح د مالِک خُدائ دپاره دا
منښته ومنله، ”کۀ تۀ ما له په عمونیانو باندې فتح راکړې، ۳۱
کۀ زۀ واپس په خیر سره راورسېدم او څوک هم چې زما د
کور نه وړومبے زما سره د مِلاوېدو دپاره راووتل نو هغه به د
مالِک خُدائ وی نو هغه څیز به هغۀ ته د سوزېدونکې نذرانې
په توګه پېش کړم.“ ۳۲ نو اِفتاح د عمونیانو سره جنګ
دپاره د سیند نه پورې وتلو او مالِک خُدائ هغۀ له فتح
ورکړه. ۳۳ هغۀ د عیروعیر نه واخله، د مِنیت نه ګېرچاپېره
علاقه او تر ابیل کرامیم پورې ټول شل ښارونه وران کړل.
هلته یو لوئ قتلِ عام وو او عمونیانو د بنی اِسرائیلو نه
شکست وخوړو.

## د اِفتاح لور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۴ کله چې اِفتاح واپس په مصفاه کښې کور ته لاړو، هلته د
هغهٔ لور د هغهٔ سره مِلاوېدو له راروانه وه، ګډېده او تمبل يې
وهلو. هغه يې ايک يوه لور وه، د هغهٔ نور زامن او لوڼه نهٔ
وې. ۳۵ کله يې چې هغه وليده، نو هغهٔ د خفګان نه خپلې
جامې وشلولې او وې وئيل، "اے زما لورې، زهٔ خو به تباه او
برباد شم. ما چې د مالِک خُدائ سره کوم لوظ کړے دے،
زهٔ خو هغه نهٔ شم ماتولے." ۳۶ هغې ورته ووئيل، "کهٔ تا د
مالِک خُدائ سره وعده کړې وى نو تا چې څهٔ وئيلى دى نو
هم هغه شان ما سره وکړه، ځکه چې مالِک خُدائ ستا
دشمنانو عمونيانو نه بدل واخستلو." ۳۷ خو هغې خپل پلار
ته ووئيل، "تهٔ زما دپاره دا يو کار وکړه، دوه مياشتې ما
يواځې پرېږده، چې زهٔ د خپلو ملګرو سره د غرونو په علاقه
کښې سرګردانه وګرځم او ماتم وکړم ځکه چې زهٔ په
پېغلتوب کښې مړه کېږم." ۳۸ هغهٔ ورته ووئيل چې، "لاړه
شه،" او دوؤ مياشتو له يې لرې ولېږله. هغه د خپلو ملګرو
سره د غرونو علاقې ته لاړه او ماتم يې وکړو ځکه چې هغه
بې‌اولاده او بې‌وادهٔ مړه کېدله. ۳۹ دوه مياشتې پس هغه
واپس خپل پلار له راغله. هغهٔ هم هغه شان وکړل چې څنګه
يې د مالِک خُدائ سره لوظ کړے وو. او هغه په پېغلتوب
کښې مړه شوه او د يو سړى سره يې هم تعلق نهٔ وو لرلے نو
داسې په بنى اِسرائيلو کښې د دې نه يو رِواج جوړ شو ۴۰
چې ښځې به هر کال څلور ورځې تلې چې د جِلعاد د اِفتاح د
لور دپاره ماتم وکړى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## اِفتاح او اِفرائیمیان

۱۲ ۱ د اِفرائیم سړی د جنګ دپاره تیار شول، هغوئ د
اُردن سیند نه صفون ته پورې وتل او اِفتاح ته یې ووئیل، ”تهٔ
د عمونیانو سره جنګ دپاره د حد پولې نه ولې واوړېدلې او
مونږ دې راونهٔ غوښتلو چې تا سره لاړ شُو؟ مونږ به ستا کور
سره تا وسوزوو.“ ۲ خو اِفتاح هغوئ ته ووئیل، ”زما او
زما د خلقو د عمونیانو سره یوه سخته لانجه وه. ما تاسو
راوغوښتلئ، خو تاسو زهٔ د هغوئ نه بچ نهٔ کړم. ۳ کله چې
ما ته پته ولګېده چې تاسو زما د بچ کولو دپاره رانهٔ غلئ، نو
ما خپل ژوند په خطره کښې واچولو او د حد پولې نه
واوړېدم چې د هغوئ سره جنګ وکړم او مالِک خُدائ ما له
په هغوئ باندې فتح راکړه. نو اوس تاسو ما سره جنګ کولو
له ولې راغلی یئ؟“ ۴ بیا اِفتاح د جِلعاد ټول سړی راغونډ
کړل، د اِفرائیم د سړو سره یې جنګ وکړو او هغوئ له یې
شکست ورکړو ځکه چې د اِفرائیم خلقو وئیلی وُو چې،
”تاسو جِلعادیان تش د اِفرائیم او منسی مفروران یئ.“ ۵ د
دې دپاره چې اِفرائیمیان تښتېدو ته پرې نهٔ ږدی، جِلعادیانو
هغه ځایونه ونیول چې چرته هغوئ د اُردن نه پورې وتلے
شول. کله چې به یو اِفرائیمی هم د تښتېدو کوشش کولو نو
هغهٔ به د پورې وتو اجازت غوښتو او د جِلعاد سړو به ترې نه
تپوس کولو، ”تهٔ د اِفرائیم د قبیلې یې څهٔ؟“ کهٔ هغهٔ به ووئیل
چې، ”نه،“ ۶ هغوئ به ورته ووئیل چې، ”شبولیت ووایه.“
خو هغهٔ به ورته په جواب کښې ”سبولیت“ ووئیل ځکه چې
هغهٔ به دا ټکے صحیح نهٔ شو وئیلے. نو هغه به یې ونیولو او
د اُردن سیند نه د پورې وتو په ځائ کښې به یې ووژلو. په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه وخت کښې دوه ځلوېښت زره اِفرائيميان ووژلے شول.
٧ اِفتاح شپږ کاله د بنی اِسرائيلو قاضی وو. بيا هغه مړ شو
او په جِلعاد کښې په يو ښار کښې ښخ شو.

## اِبصان، ايلون او عبدون

٨ د اِفتاح نه پس، د بيت‌لحم اِبصان د بنی اِسرائيلو قاضی
شو. ٩ د هغهٔ دېرش زامن او دېرش لونړه وې. هغهٔ خپلې
لونړه د خپلې قبيلې نه بهر وادهٔ کړې او خپلو زامنو له يې
دېرش ښځې د پردو قبيلو نه وادهٔ کړې. اِبصان اووهٔ کاله د
بنی اِسرائيلو قاضی وو، ١٠ بيا هغه مړ شو او په بيت‌لحم
کښې ښخ شو. ١١ د اِبصان نه پس، د زبولون ايلون لس
کاله د بنی اِسرائيلو قاضی شو. ١٢ بيا هغه مړ شو او د
زبولون په علاقه په ايالون کښې ښخ شو. ١٣ د ايلون نه
پس، د فِرعاتون نه د هليل زوئ عبدون د بنی اِسرائيلو قاضی
شو. ١٤ د هغهٔ څلوېښت زامن او دېرش نمسی وُو، چې هر
يو په خپل خر باندې سورلی کوله. عبدون اتهٔ کاله د بنی
اِسرائيلو قاضی وو، ١٥ بيا هغه مړ شو او په فِرعاتون کښې
ښخ شو چې دا ځائ د عماليقيانو د غرونو په مُلک کښې د
اِفرائيم په علاقه کښې وو.

## د سمسون پيدا کېدل

١٣ ١ بنی اِسرائيلو د مالِک خُدائ خِلاف بيا ګناه وکړه،
نو هغهٔ فلستيان پرېښودل چې څلوېښت کاله پرې حکومت
وکړی. ٢ په هغه وخت کښې د صُرعا په ښار کښې د دان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قبيلې يو سړے وو چې نوم يې منوحه وو، د هغهٔ ښځه شنډه
وه او بچى يې نهٔ وُو. ٣ د مالِک خُدائ فرښته هغې ته
راڅرګنده شوه او ورته يې وفرمائيل، "تهٔ هيڅکله د بچو د پېدا
کېدو جوګه شوې نهٔ يې، خو تهٔ به زر اُميدواره شې او يو
زوئ به دې وشى. ٤ خيال کوه چې مے يا شراب ونهٔ
څښې او نهٔ چې حرام څيز وخورې، ٥ او ستا د زوئ پېدا
کېدو نه پس هيڅکله چې د هغهٔ وېښتهٔ پرې نهٔ کړې، ځکه چې
د هغهٔ د پېدا کېدو د ورځې نه به هغه خُدائ پاک ته د نذير په
حيثيت وقف وى. هغه به د فلستيانو نه د بنى اِسرائيلو بچ
کول شروع کړى." ٦ بيا هغه ښځه لاړه او خپل خاوند ته
يې ووئيل، "د خُدائ پاک يو سړے ما له راغلو، هغه د خُدائ
پاک د فرښتې په شان هيبتناک ښکاريدو. ما د هغهٔ نه تپوس
ونهٔ کړو چې د کوم ځائ نه راغلے يې، نو هغهٔ ما ته خپل
نوم هم ونهٔ ښودلو. ٧ خو هغهٔ ما ته وفرمائيل چې زهٔ به
اُميدواره شم او يو زوئ به مې وشى. هغهٔ راته وفرمائيل چې
مے يا شراب مهٔ څښه او نهٔ چې حرام څيز وخورې، ځکه
چې تر کومې پورې هغه ماشوم ژوندے وى نو هغه به خُدائ
پاک ته د نذير په حيثيت وقف وى." ٨ نو منوحه مالِک
خُدائ ته سوال وکړو، "مالِکه خُدايه، د خُدائ پاک هغه
سړے کوم چې تا رالېږلے وو هغه پرېږده چې بيا موږ له
راشى او موږ ته وښائى چې کله هغه هلک پېدا شى نو موږ د
هغهٔ سره څهٔ وکړُو." ٩ منوحه چې کوم سوال کړے وو نو
خُدائ پاک هم هغه شان وکړل او چې کله هغه ښځه په پټو
کښې ناسته وه نو د خُدائ پاک هغه فرښته ورله واپس راغله،
خو د هغې خاوند منوحه د هغې سره نهٔ وو. ١٠ نو هغې
سمدستى منډه کړه او خپل خاوند ته يې ووئيل، "ګوره، هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بله ورځ چې کوم سړے ما له راغلے وو هغه بيا ما ته څرګند
شوے دے.“ ۱۱ منوحه پاځيدو او خپلې ښځې پسې لاړو.
هغه سړی له ورَغلو او تپوس يې ترې نه وکړو، ”آيا تهٔ هغه
سړے يې څهٔ چا چې زما د ښځې سره خبرې کولې؟“ هغهٔ
جواب ورکړو، ”آو، زهٔ هم هغه يم.“ ۱۲ نو منوحه ترې نه
تپوس وکړو، ”کله چې ستا خبره رښتيا شی، نو د هغه هلک
د ژوند اصُول به څهٔ وی او د هغهٔ کار به څهٔ وی؟“ ۱۳ د
مالِک خُدائ فرښتې ورته وفرمائيل، ”ستا ښځه به دا خبره
يقينی کړی چې هغه هر څهٔ وکړی چې څهٔ ما ورته وئيلی دی.
۱۴ هغه به داسې يو څيز هم نهٔ خوری چې د انګورو باغ نه
راځی، هغه به يو قِسم مے هم نهٔ څښی او نهٔ به حرام څيز
خوری. هغه به خامخا هغه هر څهٔ کوی چې ما ورته وئيلی
دی.“ ۱۵-۱۶ منوحه ته پته نهٔ وه چې دا د مالِک خُدائ
فرښته ده، نو هغهٔ ورته ووئيل، ”مونږ سره لږ ايسار شه او
مونږ پريږده چې تا له يو د چيلۍ بچے پوخ کړُو.“ خو فرښتې
ورته وفرمائيل، ”کهٔ زهٔ ستاسو سره ايساره شم، نو زهٔ به
ستاسو خوراک نهٔ خورم. کهٔ تاسو دا پَخول غواړئ، نو دا
مالِک خُدائ ته د نذرانې په توګه وسوزوئ.“ ۱۷ منوحه ورته
ووئيل، ”مونږ ته خپل نوم وښايه، چې کله ستا خبره رښتيا
شی نو مونږ به ستا عزت وکړُو.“ ۱۸ فرښتې ورته وفرمائيل،
”تهٔ زما د نوم تپوس ولې کوې؟ دا يو داسې عجيبه نوم دے
چې تهٔ به ورباندې پوهه نهٔ شې.“ ۱۹ نو منوحه د چيلۍ يو
بچے او څهٔ غله واخستله او د ګټ په قربانګاه باندې يې
مالِک خُدائ ته پيش کړه. او چې کله منوحه او د هغهٔ ښځې
ورته کتل نو مالِک خُدائ يو عجيبه کار وکړو. ۲۰-۲۱ په
کوم وخت کښې چې د قربانګاه نه لمبې ختلې، نو منوحه او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغهٔ ښځې ولیدل چې د مالِک خُدائ فرښته د اور په لمبو
کښې بره آسمان ته وختله او منوحه او د هغهٔ ښځه پړمخې په
زمکې پرېوتل. خو هغوئ هغه سړے بیا ونهٔ لیدو نو هغوئ ته
پته ولګېده چې دا د مالِک خُدائ فرښته وه. ۲۲ منوحه
خپلې ښځې ته ووئیل، ”په دې کښې څهٔ شک نشته چې مونږ
به مړهٔ شُو، ځکه چې مونږ خُدائ پاک لیدلے دے.“ ۲۳ خو
ښځې یې جواب ورکړو، ”کهٔ مالِک خُدائ زمونږ وژل
غوښتلے، نو هغهٔ به هیڅکله زمونږ نذرانې نهٔ قبلولې، نو هغهٔ
به مونږ ته دا هر څهٔ نهٔ ښودلے او نهٔ به یې راته دا خبرې
کړې وې.“ ۲۴ نو د هغهٔ د ښځې یو زوئ وشو او سمسون
نوم یې ورباندې کېښودو. هغه ماشوم لوئېدو او مالِک خُدائ
برکت ورکړو. ۲۵ او د مالِک خُدائ روح هغه په هغه وخت
کښې تکړه کړو چې کله هغه د صُرعا او اِستال په مینځ کښې
د دان په کېمپ کښې وو.

## د سمسون وادهٔ

۱۴ ۱ یوه ورځ سمسون تمنت ته لاړو، هلته یې یوه پېغله
فلستې ولیده. ۲ هغه واپس کور ته لاړو او خپل مور پلار ته
یې وفرمائیل، ”په تمنت کښې ما یوه فلستې جینۍ لیدلې ده او
اوس هغه ما ته وادهٔ کړئ.“ ۳ خو مور پلار یې ورته
ووئیل، ”ستا په خپلوانو یا زمونږ په ټولو خلقو کښې جینۍ
نشته څهٔ، چې تهٔ خامخا ځې او په ناسنته فلستیانو کښې
جینۍ کوې؟“ خو سمسون خپل پلار ته وفرمائیل، ”هغه جینۍ
ما له وکړه ځکه چې هغه مې خوښه ده.“ ۴ مور پلار ته یې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا پته نۀ وه چې په دې کار کښې د مالِک خُدائ لاس وو،
ځکه چې مالِک خُدائ د فلستیانو سره د جنګ دپاره یوه
موقع لټوله. په هغه وخت کښې فلستیانو په بنی اِسرائیلو
باندې حکومت کولو. ۵ نو سمسون د خپل مور پلار سره
تمنت ته لاړو. کله چې هلته هغوئ د انګورو په باغونو کښې
تېرېدل، هغۀ آواز واورېدو چې یو ځوان زمرے هغۀ ته
مخامخ غورېږی. ۶ د مالِک خُدائ روح ناڅاپه په هغۀ نازل
شو او سمسون یې تکړه کړو او په تشو لاسونو یې زمرے
ټوټې ټوټې کړو، لکه چې دا د چېلۍ بچے وی. خو هغۀ خپل
مور پلار ته د دې په حقله ونۀ وئیل. ۷ بیا هغه لاړو او د
هغه جینۍ سره یې خبرې وکړې او هغه یې خوښه شوه. ۸
یو څو ورځې پس سمسون د هغې سره وادۀ کولو دپاره
واپس لاړو. په لاره کښې هغه راوګرځېدو چې د هغه ازمری
لاش وګوری چې کوم یې وژلے وو او هغۀ ولیدل چې د دې
په لاش کښې دننه ډېرې مچۍ او شات هم وُو. ۹ هغۀ شات
د لاسونو سره راوویستل او په روانه کښې یې خوړل. بیا هغۀ
خپل مور او پلار له هم یوړل او لږ یې ترې نه ورکړل او
هغوئ هم وخوړل، خو سمسون ونۀ فرمائیل چې دا شات یې
د مړ ازمری نه راویستلی دی. ۱۰ د هغۀ پلار د هغه جینۍ
کور ته لاړو او سمسون هلته لویه مېلمستیا وکړه. هلته د
ځوانانو دا رِواج وو. ۱۱ کله چې فلستیانو هغه ولیدو، نو
هغوئ دېرش ځوانان ملګری ورولېږل چې د هغۀ سره ایسار
شی. ۱۲-۱۳ سمسون هغوئ ته وفرمائیل، ”زۀ به ستاسو نه
د یو سخت سوال تپوس وکړم. کۀ تاسو یې ما له د روتۍ په
دې اوو ورځو کښې جواب راکړو، نو زۀ به تاسو له د کتان
دېرش چُوغې او دېرش جوړه جامې درکړم. خو کۀ جواب

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مو رانهٔ کړو نو ما له به تاسو د کتان دېرش چُوغې او دېرش
جوړه جامې راکوئ.“ هغوئ ورته ووئيل، ”مونږ ته خپل
سخت سوال ووايه، چې مونږ يې واورو.“ ۱۴ هغهٔ ورته
وفرمائيل، ”د خوړونکی نه د خوراک څهٔ شے راووتلو، د
تکړه شی نه څهٔ خوږ شے راووتلو.“ درې ورځې وروستو هم
هغوئ د دې سخت سوال جواب ورنهٔ کړے شو. ۱۵ په
څلورمه ورځ هغوئ د سمسون ښځې ته ووئيل، ”خپل خاوند
وغولوه چې مونږ ته د دې سخت سوال مطلب وښائی. کهٔ تا
ونهٔ ښودلو نو مونږ به ستا د پلار په کور اور ولګوو او تا به
هم په کښې وسوزوو. تا مونږ د دې دپاره راغوښتی يُو څهٔ
چې غريبانان شُو؟ کهٔ داسې نهٔ ده؟“ ۱۶ نو د سمسون ښځه
په ژړا هغهٔ له ورغله او ورته يې ووئيل، ”تهٔ زما سره مينه نهٔ
کوې. تهٔ زما نه کرکه کوې. تا زما د خلقو نه د سخت سوال
تپوس وکړو او ما ته دې ونهٔ وئيل چې د دې مطلب څهٔ
دے.“ هغهٔ ورته وفرمائيل، ”ګوره، ما خپل مور پلار ته هم نهٔ
دی وئيلی. نو زهٔ تا ته ولې ووايم؟“ ۱۷ هغې د دې په حقله د
خېرات په ټولو اوو ورځو کښې ژړل. خو په اوومه ورځ هغهٔ
ورته د دې سخت سوال مطلب وښودلو، ځکه چې هغې د دې
په حقله هغه ډېر تنګ کړو. بيا هغې فلستيانو ته ووئيل. ۱۸
نو په اوومه ورځ د نمر پرېوتو نه مخکښې، د ښار سړو هغهٔ ته
ووئيل، ”د شاتو نه به خوږ څهٔ شے وی؟ د ازمری نه به تکړه
څهٔ شے وی؟“ سمسون ورته په جواب کښې وفرمائيل، ”کهٔ
تاسو زما په غوا يوې نهٔ وے کړے، نو تاسو به د دې سخت
سوال جواب نهٔ وے راکړے.“ ۱۹ د مالِک خُدائ روح
ناڅاپه په هغهٔ باندې راغلو او هغه يې تکړه کړو او هغه لاندې
اسقلون ته لاړو، چرته چې يې دېرش سړی ووژل، جامې يې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترینه وویستلې او د هغوئ جامې يې هغه سړو له ورکړې چا
چې هغه سخت سوال حل کړے وو. د هغې نه پس هغه واپس
د خپل پلار کور ته لاړو، چې څهٔ شوى وُو په هغې باندې
سخت غصه وو، ۲۰ او د سمسون ښځه هغه سړى له
ورکړے شوه چې کوم د هغهٔ په وادهٔ کښې د هغهٔ ښهٔ ملګرے
وو.

## پينځلسم باب

۱۵ ۱ لږه موده وروستو سمسون د غنمو د لَو په وخت
کښې د خپلې ښځې سره مِلاويدو دپاره لاړو او يو د چيلۍ
بچے يې ورله بوتلو. هغهٔ د هغې پلار ته وفرمائيل، ”زهٔ غواړم
چې د خپلې ښځې کوټې ته لاړ شم او ورسره څملم.“ خو د
هغې پلار هغه دننه نهٔ پرېښودو. ۲ هغهٔ سمسون ته ووئيل،
”په حقيقت کښې زما خيال دا وو چې تهٔ د هغې نه کرکه
کوې، نو ما هغه ځکه ستا ښهٔ ملګرى له ورکړه. خو کشره
خور يې ترې نه ښائسته ده، د هغې په ځائ دا وکړه.“ ۳
سمسون وفرمائيل، ”دا ځل چې زهٔ د فلستيانو سره څهٔ کوم
نو د هغې اِلزام دې په ما نهٔ شى لګولے.“ ۴ نو هغه لاړو او
درې سوه لومبړې يې ونيولې. د دؤو دؤو لومبړو لکۍ يې
وتړلې او د دې په غوټو کښې يې چراغونه کېښودل. ۵ بيا
هغهٔ چراغونه بل کړل او لومبړې يې د فلستيانو فصلونو
طرف ته پرېښودلې. نو داسې هغه ګېډۍ شوے فصل او ولاړ
فصل يې وسوزولو او د انګورو او زيتُونو باغونه يې هم
ورسره وسوزول. ۶ کله چې فلستيانو تپوس وکړو چې،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”دا چا کړی دی؟“ نو هغوئ خبر شول چې دا سمسون کړی
دی، ځکه چې د تمنت يو سړی يعنې د هغهٔ سخر، د سمسون
ښځه د سمسون ملګری له ورکړې وه. نو فلستيان لاړل او
هغه ښځه او د هغې پلار يې په اور وسوزول. ٧ سمسون
هغوئ ته وفرمائيل، ”چې تاسو دا کار کړے دے نو په دې
وجه زهٔ قسم خورم چې تر هغې پورې به زهٔ قلار نهٔ شم چې
ترڅو پورې مې ستاسو نه بدل نهٔ وی اخستے.“ ٨ نو هغهٔ
په دوئ باندې سخته حمله وکړه او ډېر کسان يې ترې نه
ووژل. بيا هغه لاړو او د ايتام غر په يو غار کښې ايسار شو.

## د سمسون د فلستيانو نه بدل اخستل

٩ فلستيان راغلل او په يهوداه کښې يې خېمې ولګولې او د
لحی په ښار يې حمله وکړه. ١٠ د يهوداه سړو د هغوئ نه
تپوس وکړو، ”تاسو په مونږ باندې ولې حمله کوئ؟“ هغوئ په
جواب کښې ورته ووئيل، ”مونږ د دې دپاره راغلی يُو چې
سمسون قيدی بوځُو او هم هغه شان ورسره وکړُو چې څهٔ
يې زمونږ سره کړی وُو.“ ١١ نو د يهوداه درې زره سړی د
ايتام د غرهٔ هغه غار ته لاړل او سمسون ته يې ووئيل، ”تا ته
پته نشته څهٔ چې فلستيان په مونږ باندې حکومت کوی؟ تا
مونږ سره څهٔ کړی دی؟“ هغهٔ جواب ورکړو، ”ما د هغوئ
سره هم هغه شان وکړل چې څهٔ يې زما سره کړی وُو.“ ١٢
هغوئ ووئيل، ”مونږ دلته د دې دپاره راغلی يُو چې تا وتړُو،
نو داسې به تا هغوئ ته په حواله کړُو.“ سمسون وفرمائيل،
”ما ته قسم وخورئ چې تاسو به په خپله ما نهٔ وژنئ.“ ١٣
هغوئ ورته ووئيل، ”ټيک ده، مونږ به صِرف تا وتړُو او هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته به دې حواله کړُو. مونږ تا نۀ وژنو." نو هغوئ هغه په دؤو
نوؤ پړو وتړلو او د غرۀ نه یې په زور بوتلو. ١٤ کله چې هغه
لحی ته راغلو، نو فلستیانو د هغۀ طرف ته منډې وهلې او هغۀ
ته یې چغې وهلې. د مالِک خُدائ روح ناڅاپه هغه تکړه کړو،
نو هغۀ د خپلو لاسونو او مټو نه تاو شوی پړی داسې وشلول
لکه چې سوزېدلی تارونه وی. ١٥ بیا هغۀ د خر د ژامنې یو
تازه هډُوکے وموندو. هغه ورټیټ شو او راوچت یې کړو او
زر سړی یې ورباندې ووژل. ١٦ او هغۀ ووئیل، "د خر د
ژامنې هډُوکی سره ما زر سړی ووژل، د خر د ژامنې هډُوکی
سره ما هغوئ ډېرے ډېرے کړل." ١٧ د هغې نه پس هغۀ د
ژامنې هډُوکے وغورزولو. چرته چې دا کار وشو نو د هغه
ځائ نوم د ژامنې غر شو. ١٨ بیا سمسون سخت تږے شو،
نو هغۀ مالِک خُدائ ته فریاد وکړو او وې فرمائیل، "تا ما له
دا لویه فتح راکړې ده، اوس زۀ د تندې نه مرم او د ناسنته په
لاسونو کښې به وغورزېږم؟" ١٩ نو خُدائ پاک هلته د لحی
په زمکه کښې یو خالی ځائ کولاو کړو او اوبۀ ترې نه
راووتلې. سمسون اوبۀ وڅښلې او تازه دم شو. نو هغۀ په دې
باندې دا نوم کېښودو، "د چغې وهونکی چینه" او دا تر اوسه
پورې په لحی کښې ده. ٢٠ د فلستیانو په دور کښې سمسون
شل کاله د بنی اِسرائیلو قاضی وو.

## سمسون په غزه کښې

١٦ ١ سمسون یوه ورځ فلستی ښار غزه ته لاړو، هلته د
یوې کنجرې سره مِلاو شو او د هغې سره څملاستو. ٢ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غزه خلقو ته پته ولګېده چې سمسون هلته دے، نو هغوئ هغه
ځائ نه ګېره واچوله او د ښار په دروازه کښې يې ټوله شپه د
هغهٔ اِنتظار وکړو. ټوله شپه هغوئ غلې وُو، د خپلو ځانونو
سره يې دا سوچ کولو چې، ”د سحر رڼا پورې به مونږ اِنتظار
وکړُو او بيا به هغه ووژنو.“ ٣ خو سمسون تر نيمې شپې
پورې د کنجرې سره پروت وو. بيا هغه پاڅېدو او د ښار
دروازه يې ونيوله او د تمبو، دُرشلو، تالو او هر څهٔ سره يې
وويستله. هغهٔ دا په خپلو اوږو باندې کېښودل او د هغه غر
سر پورې يې يوړل چرته نه چې حبرون ښکارېدو.

## سمسون او دليله

٤ د هغې نه پس، سمسون په يوه ښځه باندې مئين شو چې
نوم يې دليله وو، چې هغه د سورِق په مېدان کښې اوسېده.
٥ هغه پينځهٔ فلستى بادشاهان هغې له لاړل او ورته يې
ووئيل، ”سمسون وغولوه چې تا ته ووائى چې هغه دومره
تکړه ولې دے او مونږ په هغهٔ باندې څنګه غالِب راتلے شُو،
چې وې تړُو او کمزورے يې کړُو. مونږ هر يو به تا له يوولس
سوه د سپينو زرو سيکې درکړُو.“ ٦ نو دليلې سمسون ته
ووئيل، ”مِهربانى وکړه ما ته ووايه چې تهٔ په څهٔ څيز دومره
تکړه يې. کهٔ څوک تا تړل او کمزورے کول وغواړى نو هغه
داسې څنګه کولے شى؟“ ٧ سمسون ورته په جواب کښې
وفرمائيل، ”کهٔ هغوئ د ليندې په اوو نوؤ مزو باندې ما وتړى
چې هغه تازه وى او اوچ شوى نهٔ وى، نو زهٔ به د نورو په
شان کمزورے شم.“ ٨ نو فلستى بادشاهانو دليلې له د
ليندې اووهٔ مزى راوړل چې اوچ شوى نهٔ وُو او هغې پرې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سمسون وتړلو. ٩ په بله کوټه کښې د هغې څۀ سړو اِنتظار
کولو، نو هغې چغه کړه، ”سمسونه، ستا د نيولو دپاره
فلستيان راغلی دی.“ خو هغۀ د ليندې مزی داسې وشلول لکه
چې په تارونو باندې اور ولګی او وشليږی. خو هغوئ ته بيا
هم د هغۀ د طاقت د راز پته ونۀ لګېده. ١٠ دليلې سمسون ته
ووئيل، ”ګوره، تا زما نه بېوقوفه جوړه کړې ده او ما ته دې
دروغ ووئيل. اوس ما ته ووايه چې تۀ څنګه بندۀ تړلے کېدے
شې.“ ١١ هغۀ ورته وفرمائيل، ”کۀ هغوئ ما په داسې رسو
باندې وتړی چې هيڅکله هم استعمال شوې نۀ وی، نو زۀ به د
نورو په شان کمزورے شم.“ ١٢ نو دليلې نوې رسۍ راوړې
او هغه يې پرې وتړلو. بيا هغې چغه کړه، ”سمسونه، ستا د
نيولو دپاره فلستيان راغلی دی.“ هغه سړو په بله کوټه کښې
اِنتظار کولو. نو هغۀ رسۍ د تارونو په شان د خپلو متو نه
وشلولې. ١٣ دليلې سمسون ته ووئيل، ”تا تر اوسه پورې
زما نه کم عقله جوړه کړې ده او ما ته دروغ وائې. ما ته
ووايه چې تۀ څنګه بندۀ تړلے کېدے شې.“ هغۀ ورته
وفرمائيل، ”کۀ تۀ زما د ويښتو اووۀ کونسۍ د جامو په خپله
کډۍ کښې وګنډې او د کډۍ په سيخ پورې يې وتړې، نو زۀ به
د نورو په شان کمزورے يم.“ ١٤ دليلې هغه په آرام سره
اودۀ کړو، د هغۀ د ويښتو اووۀ کونسۍ يې وګنډلې او د کډۍ
په سيخ پورې يې وتړلې او چغه يې کړه، ”سمسونه، ستا د
نيولو دپاره فلستيان راغلی دی.“ خو هغه پاڅېدو او خپل
ويښتۀ يې د هغه کډۍ نه خلاص کړل. ١٥ نو هغې ورته
ووئيل، ”تۀ څنګه وائې چې زما سره مينه کوې، کله چې تۀ په
ما اعتبار هم نۀ کوې؟ تا درې ځل زما نه کم عقله جوړه کړه
او تا بيا هم ما ته ونۀ وئيل چې تۀ په څۀ باندې دومره تکړه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې." ١٦ هغې به هره ورځ د هغۀ نه تپوس کولو. هغې هغه
دومره تنګ کړے وو چې پوزې له ترې راغلو. ١٧ نو
سمسون آخر کښې هغې ته رښتیا وئیل، "زما وېښتۀ هیڅکله
هم نۀ دی کل شوی. زما د پېدا کېدو د وخت نه زۀ خُدائ
پاک ته د نذیر په حیثیت وقف یم. کۀ زما وېښتۀ کل شوی
وے، نو زما طاقت به ختم شوے وو او د نورو په شان به
کمزورے وم." ١٨ کله چې دلیلې ته پته ولګېده چې هغۀ
ورته ټول راز وښودلو، نو هغې فلستی بادشاهانو ته يو پېغام
ولېږلو او ورته يې ووئیل، "تاسو يو ځل بیا راشئ. سمسون ما
ته رښتیا وئیلی دی." نو هغوئ راغلل او د ځان سره يې پېسې
هم راوړې. ١٩ دلیلې په آرام سره سمسون په خپل غېږ کښې
اودۀ کړو او بیا يې سړے راوغوښتلو، چې هغۀ د سمسون د
وېښتو اووۀ څڼې کلې کړې. نو داسې هغه يې په تکلیف کښې
واچولو ځکه چې د هغۀ طاقت ختم شو. ٢٠ بیا هغې چغه
کړه، "سمسونه، ستا د نیولو دپاره فلستیان راغلی دی." هغه
پاڅېدو او خیال يې دا وو چې زۀ به د مخکښې په شان ځان
خلاص کړم او آزاد به شم. خو هغۀ ته پته نۀ وه چې مالِک
خُدائ هغه پرېښے وو. ٢١ فلستیانو هغه ونیولو او سترګې
يې ترې نه وویستلې. هغه يې غزه ته بوتلو او د زېړو په
زنځیرونو باندې يې وتړلو او په قید کښې ترې نه د مېچنې د
تاوولو کار اخستلو. ٢٢ خو د هغۀ وېښتۀ بیا راوشول.

## د سمسون مرګ

٢٣ فلستی بادشاهان راغونډ شول چې جشن وکړی او خپل
خُدائ دجون ته يوه لويه قربانی پېش کړی. هغوئ ووئیل،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”زمونږ خُدائ مونږ له زمونږ په دشمن سمسون باندې فتح
راکړې ده.“ ۲۴-۲۵ نو هغوئ خوشحالي کوله او هغوئ
ووئيل، ”سمسون راوغواړئ او راځئ چې په هغۀ پورې ټوقې
وکړُو.“ کله چې هغوئ سمسون د قيد نه راوويستلو، نو
هغوئ ورپورې ټوقې کولې او د ستنو په مينځ کښې يې
ودرولے وو. کله چې خلقو هغه ولېدلو، نو هغوئ د خپل
خُدائ ثناء صِفت کولو، ”زمونږ خُدائ زمونږ په دشمن باندې
فتح راکړې ده، چا چې زمونږ مُلک وران کړو او زمونږ ډېر
کسان يې ووژل.“ ۲۶ سمسون هغه هلک ته وفرمائيل چا
چې لاس نيولے روان کړے وو چې، ”ما پرېږده چې په هغه
ستنو باندې لاس ولګوم چې په کومو باندې دا کور ولاړ دے.
زۀ په دې باندې تکيه لګول غواړم.“ ۲۷ هغه ځائ د ښځو او
سړو نه ډک وو. پينځۀ واړه فلستی بادشاهان هم هلته وُو او
هلته په چت باندې تقريباً درې زره ښځې او سړی وُو، هغوئ
کتل چې په سمسون پورې ټوقې کيدلې. ۲۸ سمسون سوال
وکړو، ”اے مالِکه خُدايه پاکه، لږ ما رایاد کړه، خُدايه پاکه.
زۀ تا ته سوال کوم چې يو ځل بيا ما له طاقت راکړه، نو چې
په دې يو وار د فلستيانو نه د خپلو دوو سترګو بدل واخلم.“
۲۹ نو سمسون هغه دوه مينځنۍ ستنې ونيولې چې په کومو
باندې هغه آبادی ولاړه وه. په دواړو باندې يې يو يو لاس
کېښودو ۳۰ او چغه يې کړه، ”پرېږده چې د فلستيانو سره
مړ شم.“ هغۀ د خپل ټول زور سره ستنو له ديکه ورکړه او
هغه بُت‌خانه په هغه پينځو بادشاهانو او په نورو ټولو کسانو
باندې راوغورزېده. سمسون د خپل مرګ په وخت د هغې نه
زيات خلق ووژل چې څومره هغۀ په خپل ژوند کښې وژلی
وُو. ۳۱ د هغۀ ورونه او د هغۀ د خاندان نور کسان د هغۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاش ورېلو له راغلل. هغه يې واپس يوړو او د صُرعا او اِستال
په مينځ کښې د خپل پلار منوحه په قبر کښې يې ښخ کړو.
هغه شل کاله د بنى اِسرائيلو قاضى وو.

## د ميکاه بُتان

۱۷ ۱ يو ځل يو سړے وو چې نوم يې ميکاه وو، هغه د
غرونو په مُلک اِفرائيم کښې اوسېدو. ۲ هغهٔ خپلې مور ته
ووئيل، ”کله چې ستا نه هغه يوولس سوه د سپينو زرو سيکې
چا پټې کړې، نو ما واورېدل چې تا هغه غل ته ښېرې وکړې.
ګوره، هغه پېسې ما سره دى او هغه ما اخستې دى.“ د هغهٔ
مور ووئيل، ”زما زويه، مالِک خُدائ دې تا له برکت
درکړى.“ ۳ هغهٔ پېسې واپس خپلې مور له ورکړې او مور
يې ووئيل، ”چې هغه ښېرې زما په زوئ باندې ونهٔ لګى زهٔ
پخپله دا د سپينو زرو سيکې مالِک خُدائ ته وقف کوم. د
لرګى په يوه مجسمه به دا سپين زر وخېژولے شى. نو داسې
به زهٔ دا د سپينو زرو سيکې تا له واپس درکړم.“ ۴ کله يې
چې دا واپس خپلې مور له ورکړې نو هغې دوه سوه د سپينو
زرو سيکې يوړې او زرګر د لرګى بُت جوړ کړو او سپين زر
يې پرې وخېژول. دا د ميکاه په کور کښې کېښودے شول.
۵ د دې سړى يعنې د ميکاه يوه بُت‌خانه وه. هغهٔ څهٔ بُتان
او يو مقدس پېش بند جوړ کړو. او خپل يو زوئ يې خپل
اِمام مقرر کړو. ۶ په هغه وخت کښې په بنى اِسرائيلو کښې
يو بادشاه هم نهٔ وو، خلقو هم هغه شان کول چې څهٔ يې
خوښه وه. ۷ هم په هغه وخت کښې هلته يو ځوان ليوى وو
چې د يهوداه د بيت‌لحم په ښار کښې اوسېدو. ۸ هغه د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیت‌لحم نه لاړو چې د اوسېدو دپاره بل ځائ ولټوی. د سفر
په دوران کښې د اِفرائیم د غرونو په مُلک کښې د میکاه کور
ته راغلو. ۹ میکاه د هغهٔ نه تپوس وکړو، "تهٔ د کوم ځائ
نه راغلے یې؟" هغهٔ ورته ووئیل، "زهٔ یو لیوی یم چې د یهوداه
د بیت‌لحم نه راغلے یم. زهٔ د اوسېدو دپاره یو ځائ لټوم."
۱۰ میکاه ووئیل، "ما سره ایسار شه. زما اِمام او مشیر شه
او زهٔ به په کال کښې لس د سپینو زرو سیکې، جامې او
خوراک درکوم." ۱۱ هغه ځوان لیوی د میکاه سره اوسېدو
ته راضی شو او د هغهٔ د زوئ په شان شو. ۱۲ میکاه هغه
خپل اِمام مقرر کړو او هغه د میکاه په کور کښې اوسېدو.
۱۳ میکاه ووئیل، "اوس چې زما یو لیوی اِمام شته، نو ما ته
پته ده چې مالِک خُدائ به زما هر کار سم کړی."

## میکاه او د دان قبیله

۱۸ ۱ په هغه وخت کښې چې د بنی اِسرائیلو یو بادشاه
هم نهٔ وو نو په هغه ورځو کښې د دان قبیلې یوه داسې علاقه
لټوله چې دعویٰ پرې وکړی او قبضه یې کړی ځکه چې د بنی
اِسرائیلو په قبیلو کښې هغوئ ته خپله زمکه نهٔ وه مِلاو شوې.
۲ نو د دان د قبیلې د ټولو کورَنو نه پینځهٔ تکړه سړی
خوښ کړل. هغوئ یې د صُرعا او اِستال ښارونو نه ولېږل او
ورته یې ووئیل چې، "د هغه مُلک تحقیق وکړئ او ویې
لټوئ." کله چې هغوئ د غرونو مُلک اِفرائیم ته ورسېدل، نو
هغوئ د میکاه په کور کښې ایسار شول. ۳ کله چې هغوئ
هلته وُو، نو هغوئ د هغه ځوان لیوی په لهجه باندې پوهه
شول، نو هغوئ ورغلل او تپوس یې ترې نه وکړو، "تهٔ دلته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څهٔ کوې؟ تهٔ دلته چا راوستلے يې؟“ ۴ هغهٔ جواب ورکړو،
”زهٔ د ميکاه سره کار کوم، زهٔ د اِمام په توګه د هغهٔ سره
خِدمت کوم او هغه ما له تنخواه راکوى.“ ۵ هغوئ هغهٔ ته
ووئيل، ”د خُدائ پاک نه لږ تپوس وکړه چې مونږ به په خپل
سفر کښې کامياب شُو او کهٔ نه.“ ۶ اِمام جواب ورکړو،
”په خير لاړ شئ، ستاسو سفر د مالِک خُدائ نه منظور
شوے دے.“ ۷ نو هغه پينځهٔ سړى روان شول او د ليس
ښار ته لاړل. هغوئ وليدل چې د هغه ځائ خلق د صيدانيانو
په شان په امن سره اوسيدل. هغوئ امن پسند او غلى خلق
وُو، د هيچا سره يې هم لانجه نهٔ وه، هغوئ سره د ضرورت
ټول څيزونه موجود وُو. هغوئ د صيدانيانو نه ښهٔ لرې
اوسېدل او د نورو خلقو سره يې هيڅ لين دين نهٔ کولو. ۸
کله چې هغه پينځهٔ سړى صُرعا او اِستال ته راوګرځېدل، نو
د دوئ خپلوانو د هغوئ نه تپوس وکړو چې، ”تاسو څهٔ
وليدل.“ ۹ هغوئ جواب ورکړو، ”راځئ چې په ليس حمله
وکړُو. مونږ هغه مُلک وليدو او هغه ډېر ښهٔ وو. دلته هسې مهٔ
ايسا رېږئ. زر شئ. او هغه مُلک ونيسئ. ۱۰ کله چې تاسو
هلته ورسېږئ، نو تاسو به وګورئ چې هغه امن پسند خلق
دى. هغه يو لوئ مُلک دے، او چې څهٔ غواړئ هغه هر څهٔ په
کښې شته او خُدائ پاک هغه تاسو له درکوى.“ ۱۱ نو د دان
قبيلې شپږ سوه سړى د صُرعا او اِستال نه لاړل او د جنګ
وسله ورسره وه. ۱۲ هغوئ لاړل او د يهوداه په مغرب په
قِريَت‌يعريم کښې يې خيمې ولګولې. نو دا ځکه د هغه ځائ
نوم تر اوسه پورې د ”دان کيمپ“ دے. ۱۳ هغوئ د هغه
ځائ نه لاړل او د غرونو په مُلک اِفرائيم کښې د ميکاه کور ته
راغلل. ۱۴ بيا هغه پينځهٔ سړى کوم چې د ليس مُلک کتلو له

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تلې وُو هغوئ خپلو ملګرو ته ووئيل، ”تاسو ته پته وه څۀ چې
هلته په يو کور کښې يوه مجسمه او يو په قالب کښې جوړ
شوے بُت دے؟ هلته نور بُتان او مقدس پېش بند هم دى.
ستاسو څۀ خيال دے چې څۀ وکړُو؟“ ۱۵ هغوئ د ميکاه
کور ته لاړل، چرته چې هغه ځوان ليوى اوسېدو او سلام يې
ورباندې واچولو. ۱۶ په دې دوران کښې چې د دان کوم
شپږ سوه فوجيان چې د جنګ دپاره تيار وُو، هغوئ په
دروازه کښې ولاړ وُو. ۱۷ هغه پينځۀ جاسوسان سيدها کور
ته ننوتل او هغه ټول بُتان او مقدس پېش بند يې واخستلو، په
دې دوران کښې اِمام د شپږ سوو وسله بندو سړو سره په
دروازه کښې ايسار وو. ۱۸ کله چې سړى د ميکاه کور ته
ننوتل او مقدس څيزونه يې راواخستل، نو اِمام د هغوئ نه
تپوس وکړو، ”تاسو څۀ کوئ؟“ ۱۹ هغوئ ورته ووئيل،
”غلے شه. چې يوه خبره هم ونۀ کړې. مونږ سره لاړ شه او
زمونږ اِمام او مشر شه. د يو سړى د خاندان د اِمام کېدو نه
دا ښه نۀ ده څۀ چې د بنى اِسرائيلو د يوې قبيلې اِمام شې؟“
۲۰ نو اِمام په دې باندې ډېر خوشحاله شو او هغه مقدس
څيزونه يې واخستل او د هغوئ سره لاړو. ۲۱ نو هغوئ
خپل بچى، څاروى او خپل هر څۀ د ځان نه مخکښې کړل او
روان شول. ۲۲ هغوئ د هغه کور نه ښۀ لرې مزل کړے وو
نو ميکاه خپل ګاونډيان راغونډ کړل او د دان په سړو پسې
لاړل او ورورسېدل. ۲۳ او هغوئ ته يې چغه کړه. د دان
سړى راوګرځېدل او د ميکاه نه يې تپوس وکړو، ”څۀ چل
دے چې دومره ډېر خلق راغونډ شوى يئ؟“ ۲۴ ميکاه ورته
په جواب کښې ووئيل، ”مطلب دې څۀ دے، څۀ خبره ده؟ تۀ
زما اِمام بوځې او زما جوړ کړى معبودان اوړې او ځې نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نور زما سره څۀ پاتې کيږی؟“ ۲۵ د دان سړو ورته ووئيل،
”ستا دپاره به دا ښۀ وی چې نور هيڅ غږ ونۀ کړې. ګنې دا
سړی به غصه شی او حمله به درباندې وکړی او بيا به تۀ او
ستا ټول خاندان مړۀ شئ.“ ۲۶ نو هغوئ په خپله مخه لاړل.
ميکاه ته پته ولګېده چې د دان سړی په هغوئ باندې ډېر
زيات تکړه دی، نو هغه راوګرځېدو او کور ته لاړو. ۲۷-۲۸
کله چې د دان سړو اِمام او هغه څيزونه يوړل چې کوم ميکاه
جوړ کړی وُو، هغوئ لاړل او په ليس يې حمله وکړه، چې
کوم امن پسند خلق وُو او د جنګ دپاره تيار نۀ وُو. هغوئ د
بيت‌رِحوب په وادۍ کښې وُو او هغوئ د دې اوسېدونکی قتل
کړل او په ښار يې اور بل کړو. داسې هيڅ څوک هم نۀ وُو
چې هغوئ يې بچ کړی وے، ځکه چې ليس د صيدا نه ښۀ
لرې وو او د نورو خلقو سره د هغوئ لېن دېن نۀ وو. د دان
قبيلې خلقو هغه ښار بيا جوړ کړو او په هغې کښې اوسېدل.
۲۹ هغوئ د دې نوم د ليس نه دان ته بدل کړو، دان د هغوئ
پلار نيکۀ او د يعقوب زوئ وو. ۳۰ د دان خلقو د ځان دپاره
جوړ شوے بُت ولګول، او د موسیٰ نمسی او د جيرسوم
زوئ يونتن او د هغۀ زامنو تر هغې پورې د اِمامانو په توګه
خِدمت کولو چې جلاوطنۍ ته بوتلے شول. ۳۱ تر کومې
پورې چې د خُدائ پاک کور په سيلا کښې وو نو تر هغه
وخته پورې د ميکاه بُت هلته وو.

## يو ليوے او د هغۀ وينځه

۱۹ ۱ په هغه ورځو کښې د بنی اِسرائيلو بادشاه نۀ وو
او يو ليوے چې د اِفرائيم د غرونو په مُلک کښې ډېر لرې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوسېدو، هغهٔ د يهوداه د بيت‌لحم نه يوه وينځه بوتله چې ښځه
يې شى. ۲ خو هغه د هغهٔ نه خفه شوه، په بيت‌لحم کښې
واپس د خپل پلار کور ته لاړه او څلور مياشتې يې هلته تېرې
کړې. ۳ بيا هغه سړى دا فېصله وکړه چې هغې پسې لاړ
شى او رضا يې کړى چې واپس هغهٔ له راشى. هغهٔ خپل نوکر
او دوه خرونه ځان سره بوتلل. نو کله چې هغه هلته ورسېدو
نو ښځې هغه د خپل پلار کور ته راوستو او چې سخر هغه
وليدو نو ورته يې ډېر په مينه پخير راغلے ووئيلو. ۴ د هغهٔ
سخر پرې زور واچولو چې ايسار شى، نو هغه درې ورځې
هلته پاتې شو. هغوئ هلته خوراک څښاک وکړو او درې
شپې يې تېرې کړې. ۵ د څلورمې ورځې په سحر هغوئ
وختى پاځېدل او د تلو تيارے يې وکړو. خو د ښځې پلار هغه
ليوى ته ووئيل، ”وړومبے لږ څهٔ وخوره. چې تازه دم شې نو
وروستو به بيا لاړ شې.“ ۶ نو هغه دواړه سړى کښېناستل
او په يو ځائ يې خوراک څښاک وکړو. د ښځې پلار بيا هغهٔ
ته ووئيل، ”دا به ښهٔ وى چې شپه دلته تېره کړې او خپل زړهٔ
خوشحاله کړې.“ ۷ ليوے پاځېدو چې لاړ شى، خو د هغهٔ
سخر ورته مِنت وکړو چې ايسار شى، نو هغهٔ يوه بله شپه هم
هلته تېره کړه. ۸ په پينځمه ورځ سحر وختى هغه روان
شو، خو سخر ورته ووئيل، ”لږ څهٔ وخوره او ماښام پورې
صبر وکړه.“ نو دواړو سړو يو ځائ روټۍ وخوړه. ۹ کله
چې هغه سړے، د هغهٔ وينځه او د هغهٔ نوکر يو ځل بيا روان
شول، نو سخر ورته ووئيل، ”وګوره، ماښام نزدې دے، په
کار دى چې تاسو ټوله شپه پاتې شئ. زر به تيارهٔ شى، دلته
پاتې شئ او خپل زړهٔ خوشحاله کړئ. سحر د سفر دپاره
وختى پاځئ او خپل کور ته لاړ شئ.“ ۱۰-۱۱ خو هغه سړى

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نۀ غوښتل چې بله شپه هم تېره کړی، نو هغه او د هغۀ وينځه
په خپله مخه روان شول، خپل نوکر او دوه کته شوی خرونه
هم ورسره وُو. د ورځې ناوخته وو چې هغوئ يبوس يعنې
يروشلم ته نزدې راغلل، نو نوکر خپل مالِک ته ووئيل، ”دلته
به ودرېږو او په دې يبوسى ښار کښې به شپه تېره کړُو.“
۱۲-۱۳ خو نيک يې ووئيل، ”مونږ به په يو داسې ښار کښې
نۀ پاتې کيږُو چې د هغه ځائ خلق بنى اِسرائيل نۀ وی. مونږ
به تېر شُو او لږ مخکښې به لاړ شُو او په جبعه يا راما کښې به
شپه تېره کړُو.“ ۱۴ نو هغوئ د يبوس نه تېر شول او په خپله
مخه روان وُو. نمر په پرېوتو وو چې هغوئ د بنيامين په علاقه
کښې جبعې ته راغلل. ۱۵ هغوئ د شپې تېرولو دپاره ورغلل.
هغوئ ښار ته لاړل او په بازار کښې کښېناستل، خو هيچا د
شپې دپاره کور ته بونۀ تلل. ۱۶ څۀ وخت چې هغوئ هلته
وُو، نو يو بوډا سړے راغلو چې ټوله ورځ يې په پټو کښې کار
کړے وو. په اصل کښې هغه د اِفرائيم د غرونو د مُلک وو،
خو اوس په جبعه کښې اوسېدو. (هلته نور خلق د بنيامين د
قبيلې وُو.) ۱۷ هغه بوډا سړی د ښار په بازار کښې مسافر
وليدو او تپوس يې ترې نه وکړو، ”تۀ د کوم ځائ نه راغلے
يې؟ او تۀ چرته ځې؟“ ۱۸ ليوی جواب ورکړو، ”مونږ د
يهوداه په بيت‌لحم کښې وُو او اوس مونږ د اِفرائيم د غرونو
مُلک لرې برخې ته روان يُو د کوم نه چې زۀ راغلے يم. خو
داسې هيڅ څوک هم نشته چې مونږ خپل کور ته بوځی، ۱۹
زمونږ سره د خپلو خرونو دپاره واښۀ او بوس هم شته او
داسې زما، زما د بلې ښځې او زما د نوکر دپاره روټئ او مے
هم شته. ما سره د ضرورت هر يو څيز موجود دے.“ ۲۰
هغه بوډا سړی ورته ووئيل، ”په خير راغلئ. زۀ به ستاسو د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هر ضرورت خیال ساتم، تاسو په بازار کښې شپه مۀ
تېروئ.“ ٢١ نو هغوئ يې د ځان سره کور ته بوتلل او د
هغوئ خرونو له يې خوراک ورکړو. بيا هغوئ خپلې پښې
ووينځلې او روټئ يې وخوړه. ٢٢ هغوئ خپل زړونه
خوشحالول چې د ښار څۀ بدکاره سړی ناڅاپه د کور نه تاو
شول او په دروازه وهلو باندې يې شروع وکړه. هغوئ هغه
بوډا سړی ته ووئيل، ”هغه سړے راوباسه چې تا سره کور ته
راغلے دے. مونږ د هغۀ سره حرامکاری کول غواړُو.“ ٢٣
خو هغه بوډا سړے بهر ورووتلو او ورته يې ووئيل، ”نه، زما
ورونړو، زۀ تاسو ته مِنت کوم چې داسې خراب او بې‌اخلاقه
کار مۀ کوئ. دا سړے زما مېلمه دے. ٢٤ ګورئ، دلته د
هغۀ وينځه او زما لور ده چې وادۀ شوې نۀ ده. زۀ به اوس
هغوئ ستاسو دپاره بهر راوباسم او څۀ مو چې خوښه وی
ورسره يې وکړئ، خو د دې سړی سره داسې بد کار مۀ
کوئ.“ ٢٥ خو هغه سړو د هغۀ خبره نۀ منله. نو لېوی خپله
وينځه بهر ورولېږله. نو هغوئ ورسره په زور زنا وکړه او ټوله
شپه يې د هغې بې‌عزتی وکړه او په سحر کښې يې پرېښودله.
٢٦ د سحر په رڼا کښې هغه ښځه راغله او د هغه بوډا سړی
د کور په دروازه کښې وغورزېدله، چرته يې چې خاوند وو. د
نمر راختلو پورې هغه هلته وه. ٢٧ سحر د هغې خاوند
پاڅېدو او کله چې هغۀ دروازه کولاو کړه چې په خپله مخه
لاړ شی، نو هغۀ د کور په مخکښې خپله وينځه وليده چې د
دروازې په خولۀ کښې پرَته وه او لاسونه يې درشل ته رسېدلی
وُو. ٢٨ هغۀ ورته ووئيل، ”پاڅه، راځه چې ځُو.“ خو هغې
جواب ورنۀ کړو. نو د هغې لاش يې په خر باندې واچولو او
په خپله مخه کور ته روان شو. ٢٩ کله چې هغه ورسېدو، نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه کور ته دننه لاړو او چاقُو يې راواخستلو. هغهٔ د خپلې
وينځې لاش واخستلو، دولس ټوټې يې ترې نه جوړې کړې او
يوه يوه ټوټه يې د بنى اِسرائيلو دولسو قبيلو له ولېږله. ٣٠
هر چا به چې دا وليدل نو وئيل يې، ”د کله نه چې بنى اِسرائيل
د مِصر نه راوتلى دى، نو مونږ هيڅکله د داسې کار په حقله
نهٔ دى اورېدلى او نهٔ کله داسې کار شوے دے. مونږ به د دې
په حقله سوچ وکړُو. مونږ ته ووايئ چې څهٔ وکړُو؟“

## د بنى اِسرائيلو جنګ دپاره تيارے کول

٢٠ ١ بيا په شمال کښې د دان نه واخله په جنوب کښې
تر بيرسبع پورې، هم داسې نمرخاتهٔ طرف ته د جِلعاد د مُلک
ټول بنى اِسرائيل راووتل. قوم د يو تن په شان په مصفاه
کښې د مالِک خُدائ په حضور کښې راغونډ شو. ٢ د بنى
اِسرائيلو د ټولو قبيلو مشران د خُدائ پاک د خلقو په دې
غونډه کښې حاضر وُو او هلته څلور لاکه فوجيان د تُورو
سره ولاړ وُو. ٣ په دې دوران کښې د بنيامين خلق خبر
شول چې نور ټول بنى اِسرائيل په مصفاه کښې راغونډ شوى
دى. بنى اِسرائيلو تپوس وکړو، ”مونږ ته ووايئ چې دا جرم
څنګه شوے دے؟“ ٤ د کوم ليوى چې وينځه وژلے شوې
وه هغهٔ جواب ورکړو، ”زهٔ او زما بله ښځه د بنيامين په علاقه
کښې جبعه ته د شپې تېرولو دپاره لاړُو. ٥ د جبعې سړى په
ما باندې د حملې کولو دپاره راغلل او د کور نه يې ګېره
واچوله. د هغوئ اراده زما قتلول وُو، خو هغوئ زما د وينځې
سره دومره غلط کار وکړو چې مړه شوه. ٦ ما د هغې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاش يوړو، ټوټې ټوټې مې کړو او يوه يوه ټوټه مې د بنى
اِسرائيلو دولسو قبيلو ته ولېږله. دې خلقو په مونږ کښې
سپک او شرمناک کار کړے دے. ۷ تاسو ټول بنى
اِسرائيل دلته يئ. نو تاسو فېصله وکړئ چې مونږ له څۀ کول
په کار دى.“ ۸ ټول خلق يو ځائ پاڅېدل او وې وئيل، ”په
مونږ کښې به يو کس هم واپس نۀ ځى کۀ هغه په خېمه کښې
اوسيږى او کۀ په کور کښې. ۹ مونږ به داسې کار وکړُو
چې پچه به واچوو او څۀ سړى به خوښ کړُو چې په جبعه
باندې حمله وکړى. ۱۰ د بنى اِسرائيلو لسمه برخه سړى به
لښکر له خوراک رسوى او نور به لاړ شى چې د جبعې نه د
دې بې‌شرمه کار بدل واخلى چې هغوئ د بنى اِسرائيل په
مُلک کښې کړے دے.“ ۱۱ نو د بنى اِسرائيلو ټول سړى د
دې يو مقصد دپاره راغونډ شول چې په ښار حمله وکړى.
۱۲ د بنى اِسرائيلو قبيلو د بنيامين ټولې علاقې ته پيغام
ورُونکى ولېږل چې ووائى، ”دا څومره سخت جرم دے چې
ستاسو په مُلک کښې شوے دے. ۱۳ نو د جبعه دا بدکاره
کسان مونږ ته حواله کړئ، چې مونږ يې ووژنو او دا بد عمل
د بنى اِسرائيلو نه لرې کړُو.“ خو د بنيامين خلقو خپلو خلقو
يعنې بنى اِسرائيلو ته غوږ ونۀ نيولو. ۱۴ هغوئ د بنيامين د
ټولو ښارونو نه جبعې ته راغلل چې د نورو بنى اِسرائيلو سره
جنګ وکړى. ۱۵-۱۶ هغوئ په هغه ورځ باندې د خپلو
ښارونو نه شپږويشت زره وسله بند فوجيان راوغوښتل. د
دې نه علاوه، د جبعې اوسېدونکو اووۀ سوه خاص خوښ
شوى کسان هم راغونډ کړل کوم چې ګس متى وُو. هر يو
کس د ليندې په کاڼى باندې يو وېښتۀ ويشتلے شو او هيڅکله
ترې نه نۀ خطا کېدو. ۱۷ د بنيامين د خلقو نه بغير نورو بنى

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِسرائيلی قبيلو څلور لاکه وسله بند فوجيان راغونډ کړل چې
کوم ټول تکړه فوجيان وُو.

## د بنيامين قبيلې خِلاف جنګ

۱۸ بنی اِسرائيل په بيت‌ايل کښې د عبادت ځائ ته لاړل،
هلته هغوئ د خُدائ پاک نه تپوس وکړو، ”کومې يوې قبيلې
له اول په کار دی چې په بنيامينيانو باندې حمله وکړی؟“
مالِک خُدائ ورته وفرمائيل، ”د يهوداه قبيله.“ ۱۹ نو په
وريسې سحر بنی اِسرائيل روان شول او د جبعې ښار ته
نزدې يې خيمې ولګولې. ۲۰ هغوئ د بنيامين په لښکر باندې
حملې کولو له لاړل او ښار ته مخامخ يې د جنګ دپاره د
فوجيانو قطارونه جوړ کړل. ۲۱ د بنيامين لښکر د ښار نه
بهر راووتلو او د ورځې ختمېدو نه مخکښې هغوئ دوويشت
زره بنی اِسرائيلی فوجيان وژلی وُو. ۲۲-۲۳ نو بنی
اِسرائيليان د عبادت ځائ ته لاړل او تر ماښامه پورې يې د
مالِک خُدائ په حضور کښې د غم ژړا وکړه. هغوئ د هغهٔ نه
تپوس وکړو، ”مونږ له په کار دی څهٔ چې مونږ بيا د خپلو
ورونړو بنيامينيانو خِلاف جنګ له لاړ شُو؟“ مالِک خُدائ ورته
وفرمائيل، ”آو.“ نو بنی اِسرائيليان زړَور شول او د جنګ
دپاره يې هم هغه شان قطارونه جوړ کړل لکه څنګه يې چې په
مخکښې ورځ باندې جوړ کړی وُو. ۲۴ هغوئ په دويم ځل د
بنيامين د لښکر خِلاف روان شول. ۲۵ بنيامينيان په دويم
ځل د جبعې نه راووتل او په دې ځل هغوئ اتلس زره وسله
بند بنی اِسرائيلی فوجيان ووژل. ۲۶ نو ټول بنی اِسرائيل
بيت‌ايل ته لاړل او د غم ژړا يې وکړه. هغوئ هلته د مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ په حضور کښېنستل کښېناستل او تر ماښامه پورې يې
خوراک نۀ کولو. هغوئ د سلامتۍ نذرانې او ټۀ سوزېدونکې
نذرانې مالِک خُدائ ته پېش کړې. ۲۷-۲۸ د مالِک خُدائ د
لوظ صندوق په هغه ورځو کښې په بيت‌ايل کښې وو او د
هارون نمسے، د اِلىعزر زوئ فينحاس د دې مشر وو. خلقو
مالِک خُدائ ته ووئيل، ”مونږ له په کار دى چې د خپلو
ورونړو بنيامينيانو سره بيا جنګ له لاړ شُو او کۀ نه؟“ مالِک
خُدائ ورته وفرمائيل، ”جنګ وکړئ. زۀ به سبا په هغوئ
باندې تاسو له فتح درکړم.“ ۲۹ نو بنى اِسرائيلو د جبعې نه
ګېرچاپېره ټۀ فوجيان په پټو ځايونو کښې کښېنول. ۳۰ نو
په دريمه ورځ هغوئ د بنيامين د لښکر خِلاف روان شول او
جبعه ته مخامخ يې د جنګ دپاره د فوجيانو صفونه جوړ
کړل، لکه څنګه چې يې مخکښې جوړ کړى وُو. ۳۱
بنيامينيان د جنګ دپاره راووتل او د ښار نه لرې بوتلے
شول. هغوئ د مخکښې په شان په کولاو ميدان کښې د
بيت‌ايل په لاره او د جبعې په لاره د ټۀ بنى اِسرائيلو وژل
شروع کړل او تقريباً دېرش بنى اِسرائيليان يې ووژل. ۳۲
بنيامينيانو ووئيل، ”مونږ هغوئ له هم هغه شان شکست
ورکړو چې څنګه مو مخکښې ورکړے وو.“ خو بنى اِسرائيلو
منصوبه جوړه کړې وه چې هغوئ وباسى او په سړکونو
باندې يې د ښار نه لرې بوځى. ۳۳ نو کله چې د بنى
اِسرائيلو غټ لښکر بعل تمر ته ورسيدو نو صفونه يې جوړ
کړل. بيا سړى د نمرپرېواتۀ طرف د جبعه ښار ګېرچاپېره د
پټو ځايونو نه د جنګ دپاره راووتل. ۳۴ د بنى اِسرائيلو لسو
زرو تکړه فوجيانو په جبعه حمله وکړه او دا سخت جنګ
وو. بنيامينيانو ته پته نۀ وه چې د هغوئ تباهى رانزدې ده. ۳۵

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ بنی اِسرائيلو له د بنيامين په لښکر باندې فتح
ورکړه. بنی اِسرائيلو په هغه ورځ باندې پينځويشت زره او
سل دشمنان ووژل چا چې تُورې راويستلې وې، ٣٦ او
بنيامينيانو ته پته ولګېده چې هغوئ شکست وخوړو.

## بنی اِسرائيلو څنګه فتح ومونده

د بنی اِسرائيلو اصلی لښکر د بنيامينيانو نه راواپس شوے وو
ځکه چې هغوئ په هغه سړو باندې اعتبار کولو چې هغوئ د
جبعې نه ګېرچاپېره په پټو ځايونو کښې کښېنولی وُو. ٣٧ دا
سړی په منډه منډه جبعې ته لاړل، هغوئ په ښار کښې خوارۀ
شول او هلته يې هر يو کس ووژلو. ٣٨ د بنی اِسرائيلو اصلی
لښکر او په پټو ځايونو کښې سړو يوه نښه مقرره کړې وه.
کله به چې هغوئ د لوګی يوه لويه وريځ وليده چې د ښار نه
ختله، ٣٩ نو د جنګ د مېدان بنی اِسرائيليان به راوګرځېدل.
تر هغه وخت پورې بنيامينيانو هغه ډېرش بنی اِسرائيليان
وژلی وُو. او هغوئ د خپل ځان سره ووئيل، ”بېشکه چې
مونږ د مخکښېنی جنګ په شان هغوئ له شکست ورکړو.“
٤٠ بيا نښه څرګنده شوه، د ټول ښار نه د لوګی د وريځې
ختل شروع شول. چې بنيامينيانو په ځان پسې وروستو وکتل
نو حيران شول چې د ټول ښار نه لمبې ختلې. ٤١ نو بنی
اِسرائيليان راوګرځېدل او بنيامينيان په وارخطايئ آخته شوی
وُو ځکه چې هغوئ ته پته ولګېده چې د هغوئ تباهی رانزدې
ده. ٤٢ هغوئ د بنی اِسرائيلو نه په شا لاړل او کولاو مېدان
ته يې منډه کړه، خو هغوئ تښتېدے نۀ شول. هغوئ د اصلی
لښکر او د هغه سړو په مينځ کښې ونيولے شول کوم چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوس د ښار نه راوتل او هغوئ تباه شول. ۴۳ بنی اِسرائیلو
دشمنان گېر کړل او بغیر د رکاوټ نه هغوئ د جبعه نمرخاتهٔ
طرف ته یو ځائ پورې وریسې وُو او د تگ په دوران یې
هغوئ وژل. ۴۴ د بنیامینیانو اتلس زره ښهٔ فوجیان ووژلے
شول. ۴۵ هغه نور راوگرځېدل او د کولاو مېدان په طرف د
رِمون گټ ته وتښتېدل. د هغوئ نه پینځهٔ زره سړی په لاره
کښې ووژلے شول. بنی اِسرائیل په هغه نورو پسې جِدوم ته
روان وُو او دوه زره یې ووژل. ۴۶ په هغه ورځ باندې ټول
پینځویشت زره بنیامینیان ووژلے شول چې ټول تکړه
فوجیان وُو. ۴۷ خو شپږ سوه سړی صحرا ته وتښتېدل او
چې د رِمون گټ ته ورسېدل نو هلته څلور میاشتې پاتې
شول. ۴۸ بنی اِسرائیلیان هغه پاتې شوو بنیامینیانو پسې
راواپس شول او ټول سړی، ښځې، ماشومان او داسې ځناور
یې هم ووژل. هغوئ په هغه علاقه کښې هر یو ښار وسوزولو.

## د بنیامین قبیلې دپاره ښځې

۲۱ ۱ کله چې بنی اِسرائیلیان په مصفاه کښې راغونډ
شوی وُو، نو هغوئ د مالِک خُدائ سره دا پوخ لوظ کړے وو
چې، ”زمونږ یو کس به هم یو بنیامینی له خپله لور نهٔ
ورکوی.“ ۲ نو اوس د بنی اِسرائیلو خلق بیت‌ایل ته لاړل او
هلته تر ماښامه پورې د خُدائ پاک په حضور کښې ناست
وُو. هغوئ په چغو چغو او د ډېر فریاد سره ژړا وکړه، ۳
”اے مالِکه خُدایه، د بنی اِسرائیلو خُدایه پاکه، داسې ولې
وشول؟ د بنیامین قبیله ولې د بنی اِسرائیلو نه ورکیږی؟“ ۴

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بل سحر وختې خلقو هلته يو قربانګاه جوړه کړه او د
سلامتۍ نذرانې او سوزېدونکې نذرانې يې پېش کړې. ۵
هغوئ تپوس وکړو، ”د بنى اِسرائيلو د ټولو قبيلو نه داسې يوه
قبيله شته چې په مصفاه کښې د مالِک خُدائ په حضور
کښې غونډې له نۀ وى تلې؟“ هغوئ پوخ قسم کړے وو چې
هر څوک مصفاه له نۀ وى تلے نو هغه به وژلے شى. ۶
بنى اِسرائيل په خپلو وروڼو بنيامينيانو باندې خفه وُو او وې
وئيل، ”نن د بنى اِسرائيلو نه يوه قبيله جدا شوه. ۷ مونږ
څۀ وکړُو چې د بنيامين کوم سړى پاتې دى چې هغوئ له د
ښځو بندوبست وکړُو؟ مونږ د مالِک خُدائ سره پوخ لوظ
کړے دے چې مونږ به هغوئ له خپلې لوڼه نۀ ورکوو.“ ۸
کله چې هغوئ تپوس وکړو چې د بنى اِسرائيلو په قبيلو کښې
کۀ داسې يوه قبيله وى چې هغه په مصفاه کښې غونډې ته نۀ
وى تلې، نو هغوئ ته پته ولګېده چې د جِلعاد د يبيس يو کس
هم هلته نۀ وو، ۹ کله چې د خلقو حاضرى اخستلے شوه
نو د يبيس يو کس هم نۀ وو. ۱۰ نو غونډې خپل دولس زره
تکړه سړى د دې حُکم سره ولېږل، ”لاړ شئ او په يبيس کښې
سره د ښځو او ماشومانو هر يو کس ووژنئ. ۱۱ ټول نران
ووژنئ او هغه ټولې ښځې هم ووژنئ چې د سړى سره
څملاستلې وى.“ ۱۲ د يبيس په خلقو کښې هغوئ څلور
سوه داسې پيغلې پيدا کړې چې د چا لاس هم ورته نۀ وُو
رسېدلے، نو هغوئ يې په سيلا کښې کيمپ ته راوستلې، کوم
چې د کنعان په مُلک کښې دے. ۱۳ بيا ټولې غونډې
بنيامينيانو ته دا خبر ولېږلو کوم چې د رِمون ګټ سره وُو او
د روغې دپاره جرګه يې ورولېږله. ۱۴ بنيامينيان واپس
راغلل او نورو بنى اِسرائيلو هغوئ له د يبيس جينکۍ ورکړې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کومې چې وژلے شوې نۀ وې خو دا د هغوئ دپاره کافی نۀ
وې. ۱۵ خلق په بنیامینیانو باندې خفه وُو ځکه چې مالِک
خُدائ د بنی اِسرائیلو د قبیلو اِتحاد مات کړے وو. ۱۶ نو د
غونډې مشرانو ووئیل، ”د بنیامین په قبیله کښې نورې ښځې
نشته، کوم سړی چې پاتې دی نو د هغوئ دپاره د ښځو
بندوبست څنګه وکړُو؟ ۱۷ داسې دې بېخی ونۀ شی چې د
بنی اِسرائیلو د دولسو قبیلو نه یوه ختمه شی. مونږ له داسې
څۀ طریقه لټول په کار دی چې د بنیامین قبیله ژوندۍ پاتې
شی، ۱۸ خو مونږ دا اجازت نه شُو ورکولے چې زمونږ
لوڼه وادۀ کړی، ځکه چې مونږ په هغه کس باندې لعنت
وئیلے دے چې یو بنیامینی له اجازت ورکړی چې زمونږ د
لوڼو نه یوه وادۀ کړی.“ ۱۹ بیا هغوئ ووئیل، ”په سیلا کښې
د مالِک خُدائ کلنی مېله زر راروانه ده.“ د بیت‌ایل شمال او
د لبونه جنوب طرف ته او د بیت‌ایل او شِکم په مینځ کښې
چې کومه لار ده او نمرخاتۀ طرف ته سیلا دے. ۲۰ هغوئ
بنیامینیانو ته ووئیل، ”لاړ شئ او د انګورو په باغونو کښې پټ
شئ ۲۱ او وګورئ، کله چې په مېله کښې د سیلا جینکۍ
ګډېدو له راوځی نو تاسو د انګورو باغونو نه راوځئ. نو تاسو
هر یو کس یوه یوه ښځه د هغوئ نه په زور راونیسئ او د
بنیامین علاقې ته یې د ځان سره بوځئ. ۲۲ کۀ د هغوئ
پلاران یا ورونه مونږ له راشی او اِعتراض وکړی، نو مونږ به
ورته ووایو چې د هغوئ سره ښېګړه وکړئ او هغوئ دې
ستاسو لوڼه د ځان دپاره وساتی، ځکه چې مونږ ته په جنګ
کښې د ټولو سړو دپاره ښځې نۀ دی مِلاو شوې. او چې تاسو
خپلې لوڼه هغوئ له نۀ دی ورکړې نو په دې وجه تاسو
ګناهګار نۀ یئ.“ ۲۳ بنیامینیانو هم داسې وکړل، د هغوئ هر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یو کس د هغه ښځو نه یوه یوه ښځه خوښه کړه کومې چې په
سیلا کښې ګډېدې او بو یې تلې. بیا هغوئ واپس خپلې علاقې
ته لاړل، خپل ښارونه یې دوباره جوړ کړل او هلته اوسېدل.
۲۴ هم په هغه وخت باقی بنی اِسرائیل روان شول او هر یو
واپس خپلې قبیلې، خپل خاندان او خپل جائیداد له لاړو. ۲۵
په هغه وخت کښې د بنی اِسرائیلو بادشاه نۀ وو. هر چا هم
هغه شان کار کولو چې ښکه یې خوښه وه.


pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.